# مسيحي عبادت

ليکونکی
جودي بارتل

**Global University**
P.O.Box 5749

Nicosia, Cyprus

# د عنوانونو فهرست


| عنوان | | د پاڼې شمېره |
|---|---|---|
| لومړی لوست: | عبادت، روحاني غمی | ۵ |
| دوهم لوست: | یوازې خدای مستحق دی | ۲۰ |
| دریم لوست: | په دعا سره عبادت کول | ۳۵ |
| څلورم لوست: | عبادت د خدمت له لارې | ۵۲ |
| پنځم لوست: | عبادت په موسیقۍ کښې | ۶۴ |
| شپږم لوست: | اصولي عبادت | ۸۰ |
| اووم لوست: | د عبادت مشق کول | ۹۲ |
| اتم لوست: | عبادت د اوس او د تل لپاره | ۱۱۰ |

# مقدمه

کله مو چې عیسی مسیح د خپل ژغورونکي مالک په توګه ومنه، نو تاسو د الهي کورنۍ غړي شوئ. خدای ستاسو د دعاګانو د قبلولو له لارې تاسو ته خپله مینه څرګندوي. هغه کس چې خپل ځان يې ستاسو لپاره ورکړ، ستاسو د اړتیاوو د پوره کولو له لارې به خپله مینه تاسو له ډېره زیاته ثابته کړي. د دې ټولو مهربانیو او بخششونو په مقابل کې د یو چا طبیعي غبرګون شکرګزاري ده. څومره زیات چې په خپل مسیحي ژوندون کې وده او ترقي وکړئ هغومره زیات به د هغه سره د مینې کولو لیواله شئ. دغه لیوالتیا یو اړخیزه نه ده، ځکه خدای هم دې ته لیواله دی چې زمونږ سره مشارکت ولري. دغه دوه اړخیزه شراکت چې زمونږ او د خدای ترمنځ وجود لري بالاخره د خدای په ثنا او ستاینې باندې پای مومي. د خدای ستاینه او عبادت د هغه سره زمونږ د اړیکو د عروج ټکی دی. عبادت زمونږ په ژوند کې د هغو برکاتو باعث ګرځي چې نه یوائې مونږ بلکه نور هم د هغه څخه ګټه پورته کولای شي. خدای دې تاسو ته ددې کتاب په لوستلو سره برکت درکړي.

## د لیکوال په هکله

جودي بارتل Judy Bartel د هري او مارتابارتل لور ده چې په جنوبي امریکې کښې د خدای د خادمینو څخه یوه ده.

هغې په کال ۱۹۷۱ کښې په کولمبیا کښې خدمت کاوه. هغې سربېره پردې چې د کولمبیا د مقدس کتاب په پوهنتون کې په خدمت بوخته وه، په ځینو نورو فعالیتونو لکه د مقدس کتاب د یکشنبه یي کورسونو او د تلوېزیوني بشارتي خپرونو د پرمخ بیونې په کارونو کې هم فعاله ونډه درلوده. هغې خپل الهیات پېژندنې لیسانس د فلوریدا له کالج څخه او خپل د ټولنې پېژندنې (جامعه شناسی) لېسانس د کالیفرنیا له کالج څخه ترلاسه کړی دی او همداشان د انسان پېژندنې د علومو په اړه یې په سان دي یګو San Diego په پوهنتون کې زده کړه کړې ده.

# عبادت، روحاني غمی

د ژمي په يوې سړې هوا کې يو ځوان سړی د آند د غرونو د لوړو څخه په ډېرې سختۍ سره يوې کانيزې لارې ته راښکته کېده. ناڅاپه د هغه سترګې په يوې ځلانده کاڼي باندې ولګېدې. هغه يې پورته کړ او په خپل جب کې يې کېښود. څه وخت لاتېر شوی نه وو چې هغه وپوهېده چې هغه کاڼی چې هغه موندلی دی د کولمبيا يوه ډېره قيمتي ډبره ده. دا ترټولو لوی زمردي کاڼی و چې د کولمبيا په خاورې کې موندل شوی و. هغه په مليونونو روپيو خرڅ شو او په ترڅ کښې يې نوموړی ځوان ډېر بډای شو.

آيا تاسو په دې خوشاله نه وئ چې داسې يوه قيمتي ډبره مو موندلې وای. مونږ ټول په دې خوشاله کېږو چې د ياقوت، الماس يا زمرد په شان يو با ارزښته کاڼي خاوندان شو، که څه هم دا کار د ټولو لپاره ممکن نه دی. مګر مونږ ټول کولای شو چې ارزښتناکه غمی ترلاسه کړو او هغه پرستش او عبادت دی. زمونږ عبادت لکه د هغې قيمتي ډبرې په شان دی چې کولای شي مونږ د روحاني له لحاظه شتمن کړي. لکه د هغې با

ارزښته ډبرې په شان چې له هر اړخ نه چې ورته وکتلی شي بیلابیلي ځانګړې ښکلاوې لري، عبادت هم د بیلابیلو اړخونو څخه د څېړنې وړ دی. مونږ دې ته اړتیا لرو چې دغه با ارزښته غمۍ پاکې وساتو ترڅو د هرې زاویې څخه چې ورته وګورو، د خدای د روح په مرستې سره، د خدای جلال منعکس کړي.

## هغه څه چې په دې لوست کښې به یې ولولئ

- د عبادت او ستاینې معنی
- د عبادت لپاره لازمي داخلي خصوصيات
- د عبادت بهرني اړخونه

## دا لوست به تاسو سره مرسته وکړي ترڅو...

- دا تعریف وشئ کړای چې د عبادت لپاره کوم خصوصيات لازمي دي.
- د خدای د عبادت د بیلابیلو طریقو نومونه واخلئ.
- د خدای د عبادت هغه بیلابیلې لارې او طریقې چې د خدای په کلام کې ذکر شوي دي زده کړئ.

## د عبادت معنی

آیا تاسو تر اوسه پورې له چا سره مینه درلودلې ده او غوښتلي مو دي چې هغه سره په خاصه توګه محبت وکړئ؟ زه

په دې ډاډه یم چې پس له دقیق سوچ څخه، یوه لاره مو موندلې او هغه مو خوشاله کړی دی. او آیا ددې مطلب په درک کولو سره چې تاسو د یو بل کس د خوشالۍ سبب ګرځېدلي یئ، تاسو ته یوه خاصه او عجیبه احساس ترلاسه شوی نه دی؟

په دې توګه د خدای سره زمونږ مینه باید څرګنده شي. خدای خپله مینه زمونږ لپاره داسې څرګنده کړه چې خپل یوائینی زوی یې واستوه ترڅو زمونږ پرځای مړ شي. هغه خپل رحمت حتی هغه کسانو ته هم څرګندوي چې له هغهٔ سره مینه نه کوي. د متي په انجیل **۵: ۴۵** کښې راغلي دي: "هغه په بدانو او نېکانو یوشان خپل لمر څلوي او په دیانتدارو او بددیانتو یوشان باران وروي."

نو بیا آیا زمونږ لپاره داسې کوم دلیل وجود لري چې مونږ خپله مینه له هغه څخه پټه کړو؟ هغه چې زمونږ زړونه ګوري، د بل هر مین په څېر دې ته لیواله دی چې زمونږ د مینې اظهار واوري. په دې کار سره مونږ د خپل د زړه دروازه هغه له پرانیزو او هغه هم مونږ ته د خپلې مینې اظهار کوي. نو هغه وخت مونږ په دې پوهېږو چې د خدای سره د مشارکت معنی څه شی دی او په دنیا کې بل داسې کوم شی نشته چې د هغې ځای ونیسي.

یوه مېرمن چې د کلونو لپاره یې په کلوپونو کې سندرې وئیلې، کله چې خپل زړه یې خدای ته وسپاره، نو خپل دغه

عمل یې خوشې کړ او د روحاني سندرو په وئیلو یې پیل وکړ. کله چې په دې هکله له هغې څخه پوښتنه وشوه نو هغې ځواب ورکړ: «زړه مې د مسیح لپاره تنګیږي».

یواځې د عبادت له لارې کېدای شي چې زمونږ روحاني اړتیاوې پوره شي. مونږ دې ته اړتیا لرو چې خدای ته د خپلې مینې او محبت اظهار وکړو او په خپلو عملونو سره خپله دغه مینه چې له خدای سره یې لرو، ثابته کړو. مګر څه رنګه؟ په هغه مینې سره چې د نورو خلکو ته یې څرګندوو، د خدای د خوشالۍ او رضایت باعث ګرځو. د متي ۲۵: ۳۱_ ۴۰ داستان دغه مطلب تائیدوي. د یو مسیحي په شان په دې پوهېدلي یئ چې د خدای خوشاله کول څومره ستاسو د برکتونو باعث ګرځي. هغه څوک چې د خدای عبادت کوي هغه واقعاً یو نېکمرغه انسان وي. په امثال ۱۷: ۲۲ کې راغلي دي: "خوشاله زړه لکه د یوې شفا ورکوونکي دارو په شان دی." او په زبور ۱۲۸: ۱ کې راغلي دي: "نیکمرغه هغه کس دی چې له خدای څخه وېره لري."

## هغه څه چې تاسو یې باید سرته ورسوئ

د پوښتنو ځوابونه به تاسو سره مرسته وکړي چې دغه لوست یووار بیا تکرار کړئ. ترڅو مو چې سوالونو ته ځواب نه وي ورکړی د ځوابونو برخې ته مراجعه ونکړئ.

۱ـ صحیح عبارت په نښه کړئ. د خدای صحیح عبادت یعنې د هغه څه وئیل او سرته رسول چې..................
الف) په هماغه شیبې کې درست ښکاري.
ب) مونږ ته د ښه والي احساس راکوي.
ت) خدای خوشاله کوي.

۲ـ د هغه څه په مطابق چې مونږ ولوستل، دا لاندیني کوم اعمال د عبادت په جملې کې شمېرل کېدای شي؟
الف) خدای ته د خپلې مینې څرګندونه.
ب) هره ورځ د خدای د کلام لوستل.
ت) د مسیح په نامه خلکو ته د یو ګیلاس اوبو ورکول.

۳ـ د هغو دوو مواردو یادونه وکړئ چې د هغې بیانول یا سرته رسول ستاسو په نظر د خدای عبادت شمېرل کېږي.

خپل ځوابونه د لوست له آخرې برخې سره مقایسه کړئ.

## د عبادت لپاره لازمي داخلي خصوصیات

"مګر داسې وخت به راشي- او دغه وخت همدا اوس شروع شوی دی چې رښتیني عبادت کوونکي به په روح او راستۍ سره د آسماني پلار عبادت وکړي، ځکه پلار خدای همدغه شان عبادت کوونکي غواړي" (یوحنا ۴: ۲۳).

دغه آیت د خدای د رښتني عبادت کوونکو خصوصیات بیانوي. په سر کې د آیت لومړۍ برخې ته پاملرنه کوو: "د روح په قدرت سره به د پلار خدای عبادت کوي." د دې معنی څه ده؟ یعنې مونږ د خدای عبادت لپاره قدرت ته اړتیا لرو. هغه قدرت چې زمونږ د انساني وس څخه پورته وي. کله چې مونږ په خپلې ناتوانۍ باندې اقرار کوو، په حقیقت کې د رښتنې عبادت په لور لومړنی ګام پورته کوو. دا کار د عاجزۍ په معنی ده. دا په دې معنی ده چې مونږ ووایو: «زه په کافي اندازه قوت نه لرم او د ځان څخه د یو لوی کس مرستې ته اړتیا لرم.» د دې آیت ادامه په دې موضوع باندې ډېره رڼا اچوي: «د خدای د روح قدرت». د دې قدرت سرچینه د خدای روح دی چې زمونږ سره مرسته کوي ترڅو د خپل خدای عبادت په ښه شان سره ترسره کړو او د هغه پر وړاندې عاجزي اختیار کړو. په رښتنې عبادت کې مونږ خپل ځان د هغو بچیانو په شان ګورو چې محبت او لارښوونې ته اړتیا لري او خدای خپل آسماني پلار ګڼي. په الهي کورنۍ کې خدای د قدرت خاوند دی او مونږ د هغه قوت ته اړتیا لرو.

آیا دا موضوع په دې معنی ده چې مونږ خپل ځانونه وړوکي کوو؟ په یوه لحاظ هو. مګر عاجزي په دې معنی نه ده چې مونږ خپل ځانونه خواشیني او پټ کړو. عاجزي په دې معنی نه ده چې مونږ خپل شناخت له لاسه ورکړو بلکه په دې معنی ده چې خدای زمونږ په ژوند کې د لومړیتوب حق لري. نو

په دې توګه عاجزي د ځان خوارول نه ده ځکه خدای مونږ په خپلو نویو خوشالیو سره پورته کوي.

کله چې مونږ د هغه لوی والی او عظمت ته ګورو نو له هر وخت نه زیات دې ته چمتو یو چې هغه په رښتنې توګه لکه څنګه چې د هغه غوښتنه ده، عبادت کړو. مګر هغه زمونږ څخه څه غواړي؟ د خدای د بچیانو په توګه مونږ په دې پوهېږو چې د هرڅه نه زیات خدای زمونږ د مینې او اطاعت لیواله ده.

په کورني اړیکو کې دا ناممکنه ده چې محبت او اطاعت سره بېل کړو ځکه هر یو د خپل بل اړخ پشپړکوونکی دی. که چېرې اولاد د خپل مور او پلار سره مینه ولري نو له هغوی څخه درناوی به نه یوائې هغه ته ستونزمن نه وي بلکه د هغه څخه به خوند هم اخلي. محبت په مونږ کې دا احساس منځ ته راوړي چې وغواړو خپل ګردچاپېره په عمل کښې خوشاله کړو.

که چېرې وغواړو چې د خدای د حکمونو پرخلاف ژوند وکړو، نو دا کار د دې څرګندونه کوي چې د هغه سره زمونږ مینه څومره کمه ده. مونږ باید عاجزي او تواضع غوره کړو او له خدای څخه غوښتنه وکړو چې زمونږ کبر او غرور وبخښي او مونږ یو وار بیا د خپلې مینې څخه مالامال کړي ترڅو وشو کړای یو ځل بیا په خوشالۍ سره د هغه څخه فرمانبرداری وکړو.

بالکل د هغو غمیو په شان چې د مختلفو زاویو څخه د څېړلو وړ دی، عبادت هم بېلابېل اړخونه لري. مونږ هغه دریو خصوصیاتو ته اشاره وکړه چې د خدای له عبادت سره تړاو لري، مګر د خدای د کلام د لوستنې په ترڅ کې به تاسو له نورو خصوصیاتو سره هم آشنا شئ. په هغو پوهېدل او د هغو کاراچول به د دې سبب شي چې ستاسو عبادت نور هم ښکلی او با مفهومه شي. آیا نه غواړئ چې لومړنی ګام همدا اوس پورته کړئ؟ آیا غواړئ چې په عاجزۍ، اطاعت او مینې سره د څو شیبو لپاره دعا وکړئ او دا لاندیني الفاظ تکرار کړئ؟

ګرانه پلاره، ستا عبادت او ستاینه هغه لوی ویاړ دی چې زه کولای شم هغه ترلاسه کړم. ستا د هغې قدرت په خاطر شکر کوم چې له تاسره موجود دی. د روح القدس د قدرت له امله ستا څخه شکر کوم. له تا څخه په دې خاطر چې ته واقعاً هسې یې، بالخصوص له دې کبله چې ته زما آسماني پلر یې، ستاینه او ستا عبادت کوم. زه له تاسره د زړه له کومې مینه لرم. آمین.

## هغه څه چې تاسو یې باید سرته ورسوئ

۴ـ د هغو درېو خصوصیتونو نومونه واخلئ چې هر سړی د عبادت په موقه هغې ته اړتیا لري او تاسو په دې لوست کښې مطالعه کړ؟

۵ـ دغه لاندیني آیات هر یو د عبادت پر محال په کومو خصوصیتونو باندې ټینګار کوي؟

الف) زبور ۱۰: ۱۷

ب) اول یوحنا ۳: ۱۸

ت) اول یوحنا ۳: ۲۴

۶ـ د متي ۲۱: ۲۸- ۳۲ داستان ولولئ او ووایئ چې کوم یو ځوی د هغه خصویت درلودونکی دی چې د خدای له عبادت سره جوړښت لري.

## د عبادت بهرني اړخونه

د خدای د عبادت مختلف اړخونه پای نه مومي. د هرې پېښې په ارتباط مونږ کولای شو چې د عبادت لپاره نوې لارې او فرصتونه پیدا کړو. کله چې مونږ مقدس کتاب لولو، د هغو شخصیتونو سره مخامخ کېږو چې دې ته لیواله وو چې خدای ته خپله مینه څرګنده کړي. مونږ کولای شو چې د هغو له تجربو څخه څه درسونه زده کړو ترڅو د خدای سره په خپلې مینې کې نور هم ژور شو.

داود یو شپون وو چې وروسته بیا د اسرائیلو بادشاه شو. هغه په سندرو او د موسیقۍ د آلاتو په غږولو سره د خدای عبادت کاوه. د موسی خور مریم په نڅا سره د خدای عبادت

وکړ. د ((شونمي)) مشره مېرمن په چوپتيا سره خپل سر ټيټ کړ او دومره ډارېدلې وه چې نې شو کولای حتی يوه کلمه ووايي.

دور کاس (طابيتا) يوه خدای پرسته ښځه وه چې د خپل د ژوند له لارې به يې د خدای ستاينه کوله او د بې وزلو خلکو لپاره به يې کالي ګنډل. مريم د عيسی مور په هغو الفاظو باندې د خدای ستاينه وکړه چې د هغې خپل نه وو. کله چې هغې خپل زړه خلاص کړ، په ښکلو کليماتو سره يې نبوت وکړ. تاسو کولای شئ چې د مريمې سندره يا د خدای دغه ستاينه په لوقا ۱: ۴۶_ ۵۵ کښې ولولئ. دا فقط د خدای د عبادت او ستاينې يو څو نمونې دي. مونږ کولای شو چې هغه له يوه سندره ووايو، خپل لاسونه پورته کړو، لاسونه وپړقوو (چک چکې وکړو) او کله هم په پوره خاموشۍ او د خدای د نيکيو باندې په فکر کولو سره، په ژوره توګه د هغه عبادت ترسره کړو. لکه هسې چې پوهېږو زمونږ اعمال زمونږ له الفاظو څخه ډېر ژر کولای شي د خلکو پام ځانله راواړوي. د انسانانو سره مرسته کول د هرډول عبادت څخه افضله ده.

رښتينی عبادت لکه هغه قيمتي ډبرې په شان دی چې د نورو کاڼو سره يوځای په ځمکې کښې وجود لري. نو په دې توګه کولای شي چې په ډېره ښه توګه د خدای ښکلا او جلال منعکس کړي ځکه په خپله يو ځلېدونکی کاڼی دی.

لکه څنګه چې مو ووئیل، یو با ارښته غمې له بیلابیلو زاویو څخه، بیلابیلې ښکلاوې لري. د عبادت با ارزښته کانې هم کولای شي چې بیلابیل خارجي بڼې لکه دعا، روحاني سندرې، مینه، تواضع، اطاعت او عملي خدمت ولري.

## هغه څه چې تاسو یې باید سرته ورسوئ

۷ـ صحیح عبارت په نښه کړئ.
خدای ته زمونږ د مینې د ښودلو بهترینه لاره کومه ده؟
الف) د دنیا له وسوسو او آغېزو څخه ځانونه پټ کړو.
ب) یوه دعا په منظمه توګه تکرار کړو.
ث) په خپلو عملونو سره وښیو چې د خدای سره مینه لرو.

۸ـ که چېرې کوم څوک له تاسو څخه پوښتنه وکړي ((زه څه ډول باید عبادت وکړم؟)) ستاسو په نظر د هغه لپاره ډېر ښه ځواب کوم دی؟
الف) نورو ته وګوره او دقیقاً د هغو په شان عمل وکړه.
ب) د خدای د عبادت لپاره ډېرې طریقې او لارې موجودې دي. د هغې د پوهېدو لپاره مقدس کتاب ته مراجعه وکړه.
ث) هغه څه چې تاته مناسب ښکاري هغه ترسره کړه.

۹ـ دا لاندیني آیتونو ته په پاملرنې سره، د عبادت بېلابېلې طریقې ذکر کړئ. لومړی نمونه د مثال په توګه ذکر شوې ده.
الف) اعمال ۲: ۴۴ له ایمانداراتو سره شراکت
ب) اعمال ۴: ۳۲
ت) اعمال ۸: ۳۵

ث) اعمال ۱۲: ۱۵
ج) اعمال ۱۲: ۲۵
ح) فليمون ۴

## خپل ځوابونه مقايسه کړئ

تر هغې مو چې سوالونو ته ځواب نه وي ورکړئ، دغې برخې ته ونه ګورئ. کله مو چې د سوالونو ځوابونه بشپړ کړل، بيا دغې برخې ته مراجعه وکړئ او خپل ځوابونه ورسره مقايسه کړئ.

۱_ ت) خدای خوشاله کوي.

۲_ دوهم زوی.

۲_ ټول صحيح دي.

۷_ ث) په خپلو عملونو سره وښيو چې د خدای سره مينه لرو.

۵_ الف) عاجزي

ب) مينه

ث) اطاعت

۳_ ستاسو خپل ځواب. کېدای شي چې تاسو ووايئ چې شکرګذاري او د خدای څخه مننه. د خدای د کلام په مطالعې سره، په دعا او د هغه کس په مرستې سره چې محتاجه ده، تاسو کولای شئ چې د خدای مينه هغه له ښکاره کړئ.

۸_ ب

۴_ عاجزي (تواضع)، مينه او اطاعت.

۹_ ځوابونه ستاسو په تشخيص پورې اړه لري، مګر احتمالاً ستاسو ځوابونه کېدای شي په لاندې ډول وي.

ب) له نورو سره ونډه اخیستنه.

ت) زیری ورکوونه.

ث) مېلمه پالنه

ج) دعا او روحاني سندرې

ح) شکر ایستنه

# ستاسو يادداشت

دوهم لوست

# یوازې خدای مستحق دی

ای زمونږ ښتنه، ای خدایه! ته د دې لایق یې چې جلال، عزت او قدرت ومومې. ځکه چې ټول شیان تا پیدا کړي دي او ستا په رضا هغوی ته وجود او ژوند ورکړل شوی دی (مکاشفه ۴: ۱۱). مونږ د خدای عبادت کوو ځکه چې هغه یې لایق دی. مقدس کلام مونږ ته په روښانه ډول دا زده کوي چې ښتن حق لري چې زمونږ په زړونو او زمونږ په ژوند کښې لومړی مقام ولري. آیا دا غلطه نه ده چې مونږ یوې تورل شوې تیرې یا لرګي یا یوې ښکلې عقیدې یا د یوې قوي فرښتې عبادت وکړو؟ آیا په دې کارونو مونږ کولی شو چې دې ته انتظار وباسو چې خدای به بیا زمونږ په زړه کښې واوسیږي؟

مقدس کلام مونږ ته د هغو خلکو په باره کښې وایي چې سره له دې چې هغوی په خدای باندې عقیده لرله مګر د دې شوق یې درلود چې کوم شیان چې هغوی یې وینې او یا د هغوی تصویر د دوی په ذهن کښې وي عبادت یې وکړي. د هغوی وفاداری په څو برخو ویشل شوې وې، مګر په وروستنۍ نتیجه کښې د هغوی عبادت د بتانو عبادت و، عیسی وویل،

"هیڅوک نشي کولی چې د دوه بادارانو غلامي وکړي" (متي ۲: ۲۴). مونږ کولی شو چې یوازې د یو بادار ته چې هغه یې مستحق دی، عبادت وکړو.

## هغه څه چې په دې لوست کښې به یې ولولئ

- ❖ د خدای لوی قدرت
- ❖ د خدای هیبتناکه سپیڅلتوب
- ❖ د خدای پلارنۍ مینه

## دا لوست به تاسو سره مرسته وکړي ترڅو...

- د خدای د پاکۍ او قدرت صفت وکړئ.
- د خدای محبت زیات درک کړئ.
- د هغه خدای قدر وکړئ چې د عبادت لایق دی.

## د خدای لوی قدرت

څه وخت چې عیسی خپلو شاګردانو ته د دعا کول ورزده کول، هغه د خدای قوت ته اشاره وکړه: "ستا پادشاهي دې راشي، ستا اراده لکه څنګه چې په آسمان کښې عملي کیږي په ځمکه دې هم عملي شي" (متي ۲: ۱۰).

عيسی مونږ ته د آسمان يو کوچنی تصوير راوښود. هلته فرښتې د هغه خدای خدمت کوي چې د هغه د کلام په وسيله ټول شيان پيدا شول. کله کله مونږ د هغه قدرت له ياده وباسو، ځکه مونږ وينو چې په ظاهري توګه د انسانانو په لاس کښې دی. که څه هم هغه انسان ته اجازه ورکړې ده چې په خپله خوښه ژوند وکړي، مګر هغه هيڅکله خپل قدرت او کنترول له لاسه نه دی ورکړی. د مکاشفې د کتاب ۴: ۱۰ آيت هغو خلکو ته اشاره کوي چې خپل تاجونه (تاج د قدرت يو سمبول دی) د عيسی پښو ته وروغورزوي. ټول کائنات هغه د څښتن په توګه پيژني. په زبور ۹۸: ۲ کښې مونږ لولو: "څښتن خپل خلاصون (برياليتوب) اعلام کړ او خپل عدالت او قوت يې قومونو ته ښکاره کړی دی."

په زبور ۱۳۹: ۳_ ۱۰ د هغه د حضور په باره کښې چې هيڅ حد نلري لولو او ايوب ۲۸: ۲۳_ ۲۴ د هغه د بې حده پوهې په باره کښې خبرې کوي. هغه کولی شي چې لويې څپې په سيند کښې راپيداکړي او يا يو طوفاني سيند آرام کړي او يا يوه ښکلې دښته د خپل قدرت په وسيله فرش کړي. طبيعت د هغه د قوت بيانوونکی دی او فرښتې د هغه د حکمونو د سرته رسولو دپاره تياري دي. مونږ بايد له دې څخه نور هم زيات د هغه په مينه او ساتنه باندې باور ولرو. که چيرې هغه ته پناه يوسو نو د بل هر ځای څخه به هلته زيات په امن کښې يو. هغه کولی شي چې د تاريخ جريان بدل کړي او خپل مقصد ترسره

کړي او په همدې ډول زمونږ په ژوند کښې کار وکړي. کله چې مونږ د هغه قوت ښه پیژنو او د هغه شکر ادا کوو، زمونږ ایمان وده کوي. او مونږ دا احساسوو چې بغیر د هغه له مرستې څخه مونږ څومره محدود یو او دې ته تیاریږو چې د هغه قوت ترلاسه کړو.

## هغه څه چې تاسو یې باید سرته ورسوئ

دانیال ۴: ۲۸_ ۳۷ ولولئ او لاندې پوښتنو ته ځواب ووایئ:

۱_ عیسی په متي ۲: ۹_ ۱۴ کښې د خپلو شاګردانو سره د خدای د قوت په اړه خبرې وکړې. هغه په دې باره کښې څه وویل؟

۲_ پادشاه اعلام وکړ چې بابل یې د دې دپاره جوړ کړ ترڅو.....

الف) خدای ته جلال ورکړي.

ب) خلک مشغول کړي.

ت) خپل ځان لوی وښایي.

۳_ هغه دا ورزده کړل چې خدای عادل او ربښتنی دی او

الف) یوه ورځ به د زیات قوت خاوند شي.

ب) کولی شي چې هر مغرور نفر عاجز کړي.

ت) هغه څه چې مونږ یې کوو هغو ته لږه توجه کوي.

۴_ له دې وروسته د نبوکد نصر پادشاه تجربه

الف) څه چې پیښ شوي وو د هغه په باره کښې خاموش و.

ب) خپلې خودخواهۍ ته یې دوام ورکړ.

## د خدای هیبتناکه سپیڅلتوب

کیدای شي چې تاسو یو داسې سپین کمیس اغوستی وي چې فکرکوئ چې هغه ډیر پاک دی. خو کله چې تاسو هغه د واورې د سپین والي سره مقایسه کړ نو دې ته به متوجه شوي یاست چې په هغه کښې داغونه شته. دا هغه څه دي چې د اشعیاه نبي تجربه بیانوي. هغه پوهیده چې خدای پاک دی، په دې پوهیده چې پاکوالی د ګناه څخه د لرې والي په معنی او په هر شي کښې د صداقت په معنی دی. خو یوه ورځ هغه په خپله دا شی وازمایه. هغه یوه رویا ولیدله چې په هغې کښې وزر لرونکو مخلوقاتو چیغې وهلې: "قدوس، قدوس، لوی خدای قدوس دی." د هغوی چیغو د عبادتخانې تهدابونه ولړزول. اشعیاه یوناڅاپه دې ته پام شو چې هغه څومره د خدای په حضور کښې بې ارزښته دی. هغه څه کولی شول چې ویې کړي؟ هغه پوهیده چې دی پاک نه دی. نو چیغه یې ووهله: "زما دپاره هیڅ کوم امید نشته."

بیا د ژوندیو مخلوقاتو څخه یو راغی چې هغه سکروټې یې په لاس کښې وې چې د قربانګاه څخه یې رااخیستې وې او په هغو باندې یې د هغه شونډې لمس کړې او د هغه ګناهونه له منځه لاړل (اشعیاه ۲: ۱_ ۲).

دا رویا مونږ او اشعیاه ته څه وایي؟ دا چې خدای دومره پاک او مقدس دی چې مونږ نشو کولی د هغه په حضور کښې ودریږو. مونږ نشو کولی هغه معیار ته ورسیږو کوم چې د هغه په نظر کښې دی او نشو کولی چې په خپلو نیکو کارونو باندې تکیه وکړو، بلکه هغه باید مونږ لمس کړي او پاک مو کړي او له هغې وروسته باید نور ونه ویریږو.

مګر یوه بله ویره د هغې ویرې ځای نیسي. داسې ویره چې د خدای دپاره په هغې کښې ژور احترام موجود وي او د انساني ویرې سره کوم تړاو نلري. بلکه دخدای د لوی والي او زمونږ د بې ارزښت والي په اړه زمونږ د پوهې نتیجه ده. اشعیاه ۸: ۱۳ درياد کړئ. "یاد ساتئ چې زه قادر مطلق څښتن سپیڅلی یم . زه هغه یم چې تاسو باید ورڅخه وویریږئ". همدارنګه په ملاکي ۳: ۲ کښې راغلي دي. "زه یهوه ستاسو څښتن یم او زه نه بدلیږم." هغه د قدرت او قدوسیت خدای دی او کولی شو ډاډه اوسو چې هغه نه بدلیدونکی دی.

"د هغې پادشاهۍ چې هغه له منځه تلونکې نده او مونږ ته یې راکوي د هغه شکرګذاري وکړو او هغه ته داسې عبادت

وکړو چې د هغه دپاره د منلو وړ وي، یعنې په ویره او احترام سره، ځکه چې په حقیقت کښې زمونږ خدای یو سوزوونکی اور دی"(عبرانیان ۱۲: ۲۸_ ۲۹).

## هغه څه چې تاسو یې باید سرته ورسوئ

۵_ صحیح عبارتونه په ګوته کړئ:

الف) که چېرې ډیره هڅه وکړو نو کولی شو دومره پاک شو چې خدای یې غواړي.

ب) کله چې اشعیاه د خدای حضور ته متوجه شو نو د ګناه احساس یې وکړ.

ت) خدایي لمس کولو د اشعیاه ګناهونه له منځه یوړل.

ث) خدای کولی شي چې مونږ پاک کړي.

٦_ دا جمله پوره کړئ:

ځکه چې زه ښښتن یم او ..............................................

۷_ صحیح عبارت په ګوته کړئ:

د خدای څخه ویره د هغه احترام سره یو ځای ده چې ...............

الف) د دې سبب ګرځي چې د دعا کولو څخه وویریږو.

ب) زمونږ ناکامۍ مونږ ته رایادوي.

ت) مونږ دعا او عبادت کولو ته رابولي.

خپل ځوابونه د لوست له آخرې سره مقایسه کړئ:

## د خدای پلارنۍ مینه

د اسرائیلو قوم چې د پادشاهانو او نبیانو په زمانه کښې یې ژوند کاوه، د دې لوست د لومړني درس هغه برخه چې د هغه د قدوسیت د قوت په اړوند و، ښه یاد کړی و. هغوی د شپې د اور لمبه لیدلې وه، هغوی د سینا د غره تندر څخه چې هغه غر یې لړزولی و، په لړزان شوي وو. هغوی په لوی کاهن باندې تکیه لرله چې د هغوی په ځای به په ډیر مقدس ځای کښې د خدای سره خبرې وکړي. هغوی ویریدل چې خدای ته ورنژدې شي. خو خدای نه غواړي چې د هغه په باره کښې دې داسې فکر وشي چې ګویا هغه زمونږ څخه دومره لرې دی چې مونږ نشو کولی چې ورته نژدې شو. ځکه هغه د دنیا سره دومره مینه کوي چې خپل زوی یې راولیږه چې دنیا د ځان سره پخلا کړي. ځکه چې ګناه د خدای او انسان ترمنځ د یو دیوال په شان وه او باید د هغې کفاره ادا شوې وای ترڅو د خدای او انسان ترمنځ اړیکې بیرته برقرارې شي.

عیسی مسیح دا کار په صلیب باندې د خپل مرګ په وسیله ترسره کړ. په عبرانیان ۱۰: ۱۹_ ۲۲ کې راغلي دي: "نو اوس ای ورونو! چې مونږ د عیسی د وینې په سبب پاک ترین

مقام ته په داخلېدو زړۀ ور یو، په هغه نوې او ژوندۍ لار چې هغه زمونږ لپاره د پردې له منځ نه خلاصه کړې ده، یعنې د خپل بدن په وسیله، او چې زمونږ دغه شان لوی کاهن دی چې د خدای د کور مختار دی، نو راځئ چې خدای ته ورشو او په داسې حالت کښې چې زمونږ زړونه رښتیني وي، زمونږ ایمان دې مضبوط وي، زمونږ ضمیر دې د ګناه د احساس نه پاک وي او زمونږ بدنونه دې په صفا اوبو سره وینځلي وي.»

کله چې تاسو دا الفاظ اورئ چې «خدای پلار دی» نو څه فکر کوئ؟ آیا فکر کوئ چې خدای یو ډېر سرسخت قاضي یا یو ډیر ظالم رهبر او یا یو دیکتاتور دی؟ آیا تاسو په دې خبرو باندې په غصه کیږئ او ویریږئ؟

ځینې خلک همداسې وي، ځکه د وړکتوب وخت یې ښه نه وي تیر کړی او یا دا چې د خپلو ظالمو میندو او پلرونو څخه بده خاطره لري. ښځتن چې زمونږ په خیالونو باندې پوهیږي غواړي چې مونږ ته دا څرګنده کړي چې د هغه مینه د دنیایې مور او پلار له مینې څخه زیاته ده. د هغه مینه حتې د ډیرو ښو میندو او پلرونو څخه هم زیاته ده. داود پادشاه د روح القدس څخه الهام وموند او ویې ویل، «کیدای شي چې زما مور او پلار ما پریږدي، مګر خدای به راباندې پام کوي» (زبور ۲۷: ۱۰).

که څه هم داود په یوه خوندي کور کښې لوی شوی و. خو هغه په دې پوهیده چې کیدای شي چې د انسان مینه له منځه لاړه شي، خو د خدای مینه هیڅکله هم له منځه تلونکې نه ده. په زبور ۱۰۳: ۱۳ کښې لولو: "لکه څنګه چې پلار په خپلو اولادونو باندې مهربان وي، په همدې ډول خدای هم په هغو خلکو باندې مهربان دی چې له هغه څخه ویریږي." مونږ دا درک کولی شو چې د خدای مینه د میندو او پلرونو د مینې په شان ده، خو د هغې څخه څو څو وارې زیاته ده. یو ماشوم چې خپل پلار ورباندې ګران وي ، د ویرې او احتیاج په وخت کښې هغه پسې ورځي ترڅو له هغو څخه خلاص شي. کله چې هغه وړی وي، یوازې وي او یا کومه ستونزه لري د خپل پلار په لټه کښې وي یا کله چې وغواړي چې خپلې خوشحالۍ د یو چا سره شریکې کړي، نو خپل پلار پسې ورځي. کله کله حتی دا هم نه غواړي چې څه ووايي، فقط دا غواړي چې د خپل پلار په خوا کښې اوسي. ترڅو د هغه پلار یو څه ووايي او د هغه خبرې واوري.

خدای زمونږ څخه غواړي چې دا د پلارولۍ او زوی ولۍ اړیکه تجربه کړو او د هغه حضور ته په ورتللو سره ډاډه اوسو. پولوس رسول په دې خبره باندې ښه پوهیده. هغه وايي: "ځکه هغه روح چې خدای تاسو ته درکړی دی، هغه تاسو غلام نکوي او د ویرې سبب نه ګرځي، بلکه د هغه روح په وسیله به تاسو د

خدای اولادونه شئ او مونږ د دې روح په مرسته د خدای په حضور کښې چيغې وهو، «پلاره، ای پلاره»" (روميان ۸: ۱۵).

کله چې پولوس دا برخه ليکله، د "آرامی د ژبې" له کلمې څخه يې پلار ته د "ابا" ويلو دپاره کار اخيست. دا يوه داسې کلمه وه چې هلکانو به خپل پلار ته د غږ کولو په وخت کښې کاروله. د هغې معادله کلمه "بابا" دی.

دا مونږ ته د عبادت په باره کښې څه وايي؟ خدای زمونږ سره دومره مينه کوي چې غواړي زمونږ سره ډيره نژدې اړيکې ولري. هغه بيشکه زمونږ د ستاينې او عبادت لايق دی. څه وخت چې مونږ د هغه عبادت نه کوو نو مونږ خپلو ځانونو ته زيان رسوو. او له دې زيات خپل مهربان آسماني پلار نا آرامه کوو.

کيدای شي چې تاسو د خپل ځان څخه داسې سوالونه وکړئ: آيا زه دخدای سره داسې رويه کوم چې ګويا هغه نه پيژنم؟ آيا په خپل ژوند کښې هغه ته توجه لرم؟ او يا خپله ورځ د هغه سره په مشارکت کولو او عبادت سره پيل کوم؟

که چيرې نشئ کولی دې سوالونو ته روښانه ځواب ورکړئ نو کولی شئ چې دعا وکړئ او د خدای څخه د بخښنې غوښتنه وکړئ. هغه تاسو ته اتنظار کوي. کله چې تاسو د ښتن سره د داسې عبادت اړيکې ټينګې کړئ چې له

خوشحالۍ سره مل وي، نو د هغه حضور به ډير نژدې احساس کړئ او د هغه عبادت به نور هم زيات کوئ، ستاسو عبادت به نور هم اسانه شي او ستاسو د ژوند يوه برخه وګرځي، د يو غني او د برکت څخه ډک ژوند.

## هغه څه چې تاسو يې بايد سرته ورسوئ

۸_ لوقا ۳: ۳۴ ولولئ. تاسو څه فکر کوئ چې عيسی د دې الفاظو په ويلو سره څه احساس کاوه؟

۹_ د آياتونو څخه هر آيت د خدای د مينې څخه څه شی څرګندوي.

لومړي لمبر ته د نمونې په توګه ځواب ورکړل شوی دی.

الف) يوحنا ۳: ۱۲، خپل زوی يې زمونږ دپاره ورکړ.

ب) اشعياه ۴۱: ۱۰

ت) عبرانيان ۱۲: ۵_۶

ث) زبور ۴۰: ۳

۱۰_ صحيح عبارت په ګوته کړئ:

الف) خدای غواړي چې مونږ د هغه څخه وويريږو ځکه په دې به مونږ د خدای تابعداري وکړو.

ب) د آسماني پلار مينه د هر دنيايي پلار د مينې څخه زياته ده.

ت) آیا په آرامي ژبه کښې داسې کلمه شته چې زوی
به پلار ته ویله.
ث) په اخلاص سره د خدای عبادت کول یوه
خوشحالوونکې تجربه ده.

## خپل ځوابونه مقایسه کړئ

۱ـ ستا اراده لکه څنګه چې په آسمان کښې پوره کیږي په
ځمکه دې هم پوره شي.
۲ـ زه بدلیدونکې نه یم.
۲ـ ت
۷ـ ت
۳ـ ت
۸ـ ستاسو د خپلې خوښې الفاظ: ښایي غم، مینه او یا یوه
ژوره هیله.
۴ـ ت) د خدای شکر او ستاینه وکړئ.
۹ـ ب) د ښښتن قوت، ساتنه او مرسته.
ت) اصلاح کول
ث) د نوې سرود ویل
۱۰ـ الف) غلط
ب) صحیح
ت) صحیح
ث) صحیح
۵ـ الف) غلط
ب) صحیح

ت) صحیح
ث) صحیح

# ستاسو يادداشت

دريم لوست

# په دعا سره عبادت کول

په لومړي لوست کښې مونږ زده کړل چې عبادت کول د خدای سره د دوستئ او مشارکت په معنی دی او همدا دليل و چې خدای مونږ پيدا کړو. هغه غواړي چې د انسانانو سره مينه وکړي ترڅو هغوی هم په دې وتوانيږي چې د هغه سره مينه وکړي. د آدم او حوا دپاره څومره ښې شيبې وې چې خدای د هغوی سره د عدن په باغ کښې ګرځيده او د هغوی سره ئې خبرې کولې. مګر کله چې انسان ګناه وکړه، نو دا اړيکه ئې په قصدي توګه د خدای سره پرې کړه. مګر خدای لا د انسان په لټه کښې و. د تثنيې په کتاب په ۳۳: ۳ کښې راغلي دي، څښتن د خپلو خلکو سره مينه کوي.

د هغه غوږونه لا اوس هم د انسان فرياد اوري. مونږ کولی شو چې د دعا په وسيله د هغه سره مشارکت ولرو. دعا کول مشکل کار نه دی. آيا مونږ نه غواړو د هغه چا سره خبرې وکړو چې زمونږ سره مينه کوي او مونږ د هغه سره مينه کوو؟ لکه څنګه چې د خپلو دوستانو سره په اړيکو لرلو کښې مونږ دا وينو چې هرڅومره زياتې خبرې وکړو دا کار نور هم آسانه

کيږي، په همدې ډول څومره چې ډيرې دعاګانې وکړو، دعا کول مونږ ته آسانه کيږي، هغه دعا چې په عبادت کولو کښې د خداى سره زمونږ مينه څرګندوي.

## هغه څه چې په دې لوست کښې به يې ولولئ

- ❖ په خپلو لفظونو کښې عبادت کول
- ❖ د روح په لفظونو کښې عبادت کول
- ❖ هغه عبادت چې بغير له لفظونو وي

## دا لوست به تاسو سره مرسته وکړي ترڅو...

- دا واضيح کړئ چې په دعا سره عبادت کول د عبادت د نورو ډولونو سره څه فرق لري.
- په زړه لوظنامې او نوې لوظنامې کښې د عبادت نمونې په ګوته کړئ.
- دا درک کړئ چې د مقدس کتاب د عبادت يوه نمونه څرنګه نن ورځ د دعا له لارې عملي کيږي.

## په خپلو الفاظو عبادت کول

کله چې تاسو دعا کوئ، آيا داسې وايئ چې، "اى ګرانه خدايه، په دې ستونزه کښې راسره مرسته وکړه؟" دا داسې دعا ده چې خداى ورباندې خوشحاليږي، ځکه د هغه دا خوښيږي

چې زمونږ سره د اړتیا په وخت کښې مرسته وکړي، چې دې دعا ته د سوال کولو دعا وایو. یا د هغو برکتونو دپاره چې ستاسو په ژوند کښې رامنځته کوي شکر ادا کوئ، چې دې دعا ته د شکرګذارۍ دعا وایو.

کیدای شي چې تاسو د نورو خلکو دپاره دعا وکړئ ترڅو خدای د هغوی سره په ستونزو کښې مرسته وکړي، چې دې دعا ته د شفاعت کولو دعا وائي. ځښتن د خپلو اولادونو څخه غواړي چې دې ډول دعا ته خاصه پاملرنه وکړي. مګر یو قسم دعا ده چې هغه د هغو شرایطو سره تړاو نلري په کومو کښې چې مونږ ژوند کوو، بلکه یوازې په خدای او د هغه د پیژندنې پورې اړه لري. دا دعا د عبادت دعا ده. کله چې مونږ دا دعا وکړو، نور نو د خپل ځان، خپلو حاجتونو او حتی د دعاګانو د جوابونو په باره کښې چې مخکښې مو ترلاسه کړیدي، فکر نه کوو، او یوازې د خدای په حضور باندې سره متمرکز کیږو، د هغه په ابدي او نه بدلیدونکو خصوصیاتو په باره کښې فکر کوو، د هغه په قوت، وفادارۍ، محبت او د هغه د ټولو خصوصیاتو په اړه فکر کوو.

د عبادت په وخت کښې زمونږ مقصد او نیت دا دی چې یوازې دا نه چې دخدای څخه یو څه لاسته راوړو بلکه هغه ته یوڅه وړاندې کړو. مونږ خپل ځانونه خدای ته هدیه کوو. د داود د ډیرو مزامیرو څخه چې لیکلي ئې دي، هغه د عبادت دعاګانې دي. کله چې داود د خدای عبادت کاوه، د هغه د

وجود په خاطر یې د هغه ستاینه کوله. "ښتن پاچا دی.... ښتن قادر دی... هغه سپیڅلی دی" (زبور ۹۹: ۱_۳).

دا ښه خبره ده چې مونږ خپلې دعاګانې په عبادت سره شروع کړو. دا هغه څه و چې عیسی خپلو شاګردانو ته ورزده کول. مخکښې له دې چې هغه ورځخه څه وغواړي عیسی په خپلو دعاګانو کښې د هغه ثناه وویله او داسې ئې وفرمایل: "ای زمونږ آسماني پلاره، ستا نوم دې مقدس وي، ستا پادشاهي دې راشي، ستا اراده دې لکه څنګه چې په آسمان کښې پوره کیږي په ځمکه دې هم پوره شي" (متي ۲: ۱-۹).

## هغه څه چې تاسو یې باید سرته ورسوئ

۱_ لاندې عبارت متي ۲: ۹_۱۰ ته په رجوع کولو سره پوره کړئ،

الف) ښتن زمونږ ........دی.

ب) د هغه نوم........دی.

ت) هغه .....لري، د هغه اختیار تر .........او ......... پورې رسیږي.

کله چې مونږ د خدای عبادت کوو، نو درې شیان پیښیږي: لومړی دا چې مونږ خپل مقام د خدای د اولادونو په توګه ترلاسه کوو. دوهم دا چې مونږ خپل دښمن ته دا اعلانوو

چې نور په مونږ باندې هيڅ اختيار نه لري. ځکه چې مونږ د خدای د پادشاهۍ سره تړاو لرو او هغه مونږ ته وعده راکړې ده چې مونږ به ساتي. دريم او مهم ټکی دا دی چې مونږ خدای خوشحالوو. په امثال **۱۵**: **۸** کښې راغلي دي. "خدای د نيکو خلکو په دعا باندې خوشحاليږي. هغه زمونږ په دعا باندې خوشحاليږي." اوس د يو څو شيبو دپاره د خدای په باره کښې فکر وکړئ او که چيرې نور خيالونه غواړي چې ستاسو ذهن ونيسي، نو د روح القدس څخه وغواړئ چې د عبادت په وخت کښې درسره مرسته وکړي. هغه د خدای پورې اړوند شيان ستاسو په ذهن او زړونو کښې ځای په ځای‌کوي.

"دا هيڅکله هير نکړئ چې څښتن خدای دی، هغه مونږ پيداکړي يو، مونږ د هغه قوم يو او د هغه د رمې پسونه يو، ځکه چې څښتن نيک دی ، د هغه مينه ابدي ده او د هغه وفاداري تر تر تله ده" (زبور ۱۰۰: **۳** او **۵**).

## هغه څه چې تاسو يې بايد سرته ورسوئ

۲ـ صحيح عبارتونه په نښه کړئ،

الف) دعاګانې ډير ډولونه لري او ټولې د برکت او معنی څخه ډکې دي.

ب) عبادت صرف يو دود دی چې په خاصو شرايطو کښې اجرا کيږي.

ت) عیسی خپلو شاګردانو ته دا ورزده کړل چې د خدای عبادت وکړي.

ث) د عبادت اصلي مقصد زمونږ د مشکلاتو دپاره د جوابونو تر لاسه کول دي.

۳ـ لاندېني عبارتونه د ورکړل شویو ځوابونو په وسیله پوره کړئ.

که چېرې د عبادت پر وخت نشئ کولای چې څه شی ووایئ تاسو کولای شئ ..........................................................

الف) عبادت کول هیر کړئ.خدای ستاسو په محدودیتونو باندې پوهیږي.

ب) د خپل کشیش څخه وغواړئ چې تاسو ته ځینې عبارتونه ولیکي چې تاسو ئې له یاده زده کړئ.

ت) د عبادت مزامیر او یا د مقدس کلام ځینې نورې برخې چې د عبادت سره تړاو لري راپیداکړئ او هغه ښبتن ته ولولئ.

ث) د روح القدس څخه وغواړئ چې تاسو سره د خدای په عبادت کښې مرسته وکړي.

۴ـ لاندینی عبارت د ورکړل شویو ځوابونو په وسیله پوره کړئ.

عبادت د دعاګانو د نورو ډولونو څخه فرق لري ځکه چې:

الف) په هغه کښې زمونږ د حاجتونو او ستونزو یادونه نشته.

ب) باید دعا د نورو دپاره وي.

ت) زمونږ د شرایطو پورې تړاو لري.

ث) یوازې خدای ته لکه څنګه چې هغه دی جلال ورکوي.

**۵ـ** د دعاګانو لاندیني ډولونه مشخص کړئ:

الف) ستا څخه غواړم چې زما د سر درد ښه کړې.
ب) د خپلو دوستانو په خاطر ستا شکر کوم.
ت) هغو خلکو سره مرسته وکړه چې په بې دینه هیوادونو کښې اوسیږي.
ث) ستا شکر کوم ځکه چې ته رحیم ئې.
ج) زما کورنۍ ته ژر تر ژره خلاصون ورکړه.
د) هللویا
ذ) ستا څخه شکرګذار یم چې د سفر په وخت کښې دې زه وساتلم.
ر) دې خوراک ته برکت ورکړه.

۱) سوال کول
۲) شکرګذاري
۳) شفاعت
۴) عبادت

**خپل ځوابونه مقایسه کړئ.**

## د روح په الفاظو سره عبادت کول

مخکښې له دې چې زمونږ څښتن آسمان ته وخيژي، هغه خپلو شاګردانو ته خاصې لارښودنې وکړې او وئې ويل، "د پلار هغې وعدې ته انتظار وباسئ چې د هغې په باره کښې مې تاسو ته ويلي وو. يحيی په اوبو د تعميد غسل ورکاوه، خو يو څو ورځې وروسته به تاسو د روح القدس په وسيله د تعميد غسل واخلئ"( د رسولانو اعمال ۱: ۴_۵).

لس ورځې وروسته هغوی د روح القدس په وسيله دتعميد غسل واخيست. د هغوی د تعميد د غسل نښه دا وه چې هغوی په داسې ژبو باندې په خبرو کولو شروع وکړه چې تر دې وخته پورې ئې هغه نه پيژندلې. هغه خلک چې د دوی په شاوخوا کښې ولاړ وو، د دې پيښې شاهدان وو او هغوی په پوښتنو کولو باندې شروع وکړه. پطروس په ځواب کښې وويل، "توبه وباسئ او تاسو هر يو بايد د خپلو ګناهونو د بخښنې په خاطر د عيسی مسيح په نوم د تعميد غسل واخلي چې روح القدس يعنې د خدای نعمت ومومئ. ځکه چې دا وعده ستاسو، ستاسو د اولادونو او هغو خلکو دپاره ده چې لېرې پاتې شوې دي، يعنې د هغه چا دپاره چې زمونږ څښتن خدای هغه خپل ځان ته راوبولي (د رسولانو اعمال ۲: ۲۹_ ۳۸).

له هغې ځخه وروسته زيات شمير خلک چې د درې زرو په شاوخوا کښې وو، د روح القدس ځخه ډک شول. ځکه چې دا وعده د هغو ټولوخلکو دپاره وه چې زمونږ ځښتن خدای هغوی رابللي وو. نن هم ډير ايمانداران د روح القدس ځخه ډکيږي او کيدای شي چې دا کار په ډيرو ايماندارانو باندې وشي.

که چيرې څوک وغواړي چې د روح القدس ځخه ډک شي، آيا په دې به تاسو حيران شئ؟ که تاسو خپله هغه مخکښې ازميښت کړې وي، کولی شئ چې د هغه سره مرسته وکړئ، خو په دې درس کښې زمونږ مقصد په روح سره د عبادت کولو د ځينو گټو يادونه ده، يعنې په نابلده ژبو باندې عبادت کول او د روح په الفاظو باندې عبادت کول.

زما د دوستانو ځخه يو نفر چې په دريو ژبو باندې خبرې کولی شي، ماته وويل چې کله چې هغه په نورو ژبو باندې خبرې کول شروع کړل، په هغه باندې څه وشول. "زه د خدای له مينې ځخه ډک وم. اول مې له محبت ځخه ډکې اسپانيائي الفاظو سره د خدای عبادت وکړ، بيا مې په هغو الفاظو د ځښتن عبادت وکړ چې ورباندې بلد وم او بيا مې په آلماني ژبه د خدای عبادت وکړ. مگر دا کافي نه و. ناڅاپه مې په يوه داسې عجيبه ژبه په خبرو شروع وکړه او پوه شوم سره له دې چې نه پوهيدم چې ځښتن ته څه وايم، خو ځښتن ته خپله ژوره مينه ځرگندوم. او ځرنگه چې هغه ژبه يوه آسماني ژبه ده نه دنيائي، نو د هغې الفاظ کافي دي.

ما مخکښې هیڅکله داسې د خوشحالۍ احساس نه و کړی لکه څنګه مې چې په نورو ژبو باندې د خدای د عبادت په وخت کښې وکړ. مونږ نشو کولی چې په روح سره د خدای عبادت یوازې په الفاظو باندې بیان کړو. هر نفر باید د هغه ښکلا او برکت د خپل ځان دپاره ازمیښت کړي. هغه وخت چې دا کتاب مې لیکه ، دا مطلب مې په ډیره ښه توګه درک کړ. زه د یوې خاصې سختې تجربې سره مخامخ شوم چې په سختۍ سره مې کولی شول د څښتن عبادت وکړم او حتی ما نشو کولی چې ښه خوب وکړم. د روح الفاظو ما ته قوت راکړ. د دې په ځای چې زه خپله وغواړم څه ووایم، روح القدس په ډیرې آسانۍ سره کولی شي چې دا کار وکړي.

یوه ورځ مې څښتن ته وویل،"زه ولې باید د دې تجربې سره مخامخ شم؟ ولې زه، ای څښتنه؟ سمدستې مې د خدای نرم آواز واورید چې زما په نظر داسې معلومیده چې هغه وائي، ته د عبادت د ګټو په باره کښې لیکنه کوې، زه غواړم چې ته په خپله هغه ازمیښت کړې او د هغه په حقیقتونو باندې پوه شې."

زه غواړم د خدای د کلام او خپلې شخصي تجربې څخه په ګټې اخیستلو سره تاسو ته د دې برکت د ښتینوالۍ څخه ډاډ درکړم. کله چې ما په ژبو باندې د خدای عبادت ته دوام ورکړ، روحي فشارونه مې ورک شول او په ښتینې توګه آزاد شوم. دا روح القدس دی چې مونږ د خدای حضور ته ورولي(افسیان ۲:

۱۸). "د خدای روح په عبادت کښې زمونږ سره مرسته کوي" (رومیان ۸: ۲۶).

روح القدس مونږ د ویرې څخه خلاصوي او مونږ ته قوت، محبت او په خپل ځان باندې واک لرنه راکوي (دوهم تیموتاوس ۱: ۷). او په راتلونکې کښې د خدای په جلال کښې شریک کیدل رایادوي.

"دا هیله مونږ هیڅکله نه ناامیده کوي ځکه چې د خدای محبت چې د روح القدس په وسیله مونږ ته راکړل شوی دی زمونږ په زړونو کښې ځای نیولی دی" (رومیان ۵: ۵).

په روح سره عبادت زمونږ سره مرسته کوي چې د ژوند د موقتي مسئلو څخه زیات د ابدي خدای په باره کښې فکر وکړو چې ټول شیان د هغه په واک کښې دي او څرنګه چې خدای د هغه لایق دی هماغه شان یې ستاینه وکړو. ځکه کله چې مونږ په ژبو باندې خبرې کوو، خدای ته جلال ورکوو (اعمال ۱۰: ۴۶). که چیرې تراوسه پورې د روح القدس د تعمید د غسل تجربه نه لرئ، کولی شئ چې همدا اوس دعا وکړئ ځکه چې خدای دا وعده ټولو ایماندارانو ته ورکړې ده.

۶ـ لاندينی عبارت د ورکړل شويو ځوابونو څخه د کوم يو ځواب په وسيله پوره کيږي؟

د روح په الفاظو سره عبادت يعنې، .................................

الف) د روح القدس د تعميد د غسل د نعمت څخه ګټه اخيستنه.

ب) په نابلده ژبو باندې دعا کول.

ت) خدای ته جلال ورکول لکه څنګه چې هغه ئې لايق دی.

۷ـ په روح سره د عبادت کولو دريو برکتونو نومونه واخلئ.

## بغير له الفاظو عبادت كول

مونږ څنګه کولی شو چې بې له الفاظو د خدای عبادت وکړو او څه ونه وايو؟ دا کار نه يوازې داچې کيدونکی دی بلکه کله کله د هغې دعا څخه ضروري دی کوم چې په لوړ آواز سره کيږي. د خاموشۍ په حال کښې د دعا کولو په وخت کښې کيدای شي چې دوه کارونه وشي: لومړی دا چې کولی شو خپل ډير خصوصي او ژور خيالونه خدای ته ووايو يعنې داسې خيالونه چې لازم نه وي چې نور خلک ورباندې پوه شي.

"ای څښتنه، زه دې ازمایلی او پیژندلی یم، ته زما په ناسته او ولاړه باندې خبر یې او زما په خیالونو باندې له لرې څخه پوهیږې، ځکه مخکښې له دې چې زما له خولې څخه خبره راوزي ، ته په هغو ټولو باندې پوهیږې" (زبور ۱۳۹: ۱_۴).

دوهم دا چې د خاموشۍ په حال کښې مونږ خدای ته انتظار وباسو، د خدای دپاره انتظار کول یعنې چُپ پاتې کیدل ترڅو خدای زمونږ سره خبرې وکړي. د خدای روح کولی شي چې مونږ ته د آیاتونو یا خیالونو په رایادولو سره په هغه وخت کښې لارښودنه وکړي.

مشارکت کوم یو اړخیزه کار نه دی چې یوازې یو کس په هغه کښې خبرې وکړي. دواړه کسان باید په هغه کښې برخه واخلي. څښتن غواړي زمونږ سره خبرې وکړي. هغه وفرمایل: "ما ته غږ وکړئ، زه به تاسو قبول کړم او تا به له هغو لویو او پټو شیانو څخه خبر کړم چې تاسوورباندې نه پوهیږئ" (ارمیاه ۳۳: ۳).

خدای غواړي زمونږ سره زمونږ د شرایطو او په خپله زمونږ په اړه خبرې وکړي. کله چې مونږ هغه ته اجازه ورکړو، نو هغه به خپل رازونه مونږ ته ښکاره کړي او په نتیجه کښې مونږ کولی شو چې په ډیره ښه توګه دعا وکړو او د هغه خدمت وکړو.

"دخدای نوم دې تر ابده پورې مبارک وي ځکه چې حکمت او قدرت د هغه دی...حکیمانو ته حکمت وربخښي...دا هغه دی چې ژور او پټ شیان ښکاره کوي. هغه څه چې په تیاره کښې دي هغه پیژني او په هغه کښې رڼا یې ده" (دانیال ۲: ۲۰_۲۲).

ښايي چې تر اوسه مو په خاموشۍ کښې دعا کړې وي او غواړئ په هغې باندې ښه پوه شئ چې دا کار څنګه نور هم ښه وکړو. یو آرام ځای پیدا کړئ او یوازې اوسئ او د خدای څخه وغواړئ چې ستاسو ذهن له خپلو خیالونو څخه ډک کړي. له هغه څخه وغواړئ چې تاسو سره مرسته وکړي ترڅو د شیطان خیالونه ونه منئ. بیا د خاموشۍ په حال کښې د هغه عبادت وکړئ، صبر کوونکي اوسئ او د خدای د آواز د اوریدلو انتظار وباسئ. هغه د مقدس کلام له مخې خبرې کوي، نو د هغه آواز واورئ. څښتن وایي:

"څوک چې ما سره مینه کوي زه به هغه وژغورم او هغه څوک به وساتم چې ما د څښتن په توګه پیژني، کله چې دوی ما ته غږ کړي، زه به یې قبول کړم" (زبور ۹۱: ۱۴_ ۱۵).

## هغه څه چې تاسو یې باید سرته ورسوئ

۸_ په خاموشۍ سره د دعا کولو د مهمو دلیلونو نومونه واخلئ:

۹ـ صحیح عبارتونه په ګوته کړئ.

الف) څښتن یوازې هغه لفظونه اوري کوم چې زمونږ په ژبه باندې راځي.

ب) د خاموشۍ په حال کښې عبادت کول زمونږ سره مرسته کوي تر څو د خدای آواز واورو.

ت) مونږ هغه وخت په خاموشۍ سره دعا کولی شو چې یوازې اوسو.

ث) څښتن هیڅکله د مقدس کلام په خلاف خبره نکوي.

۱۰ـ لاندینی عبارت د کومو ورکړل شویو ځوابونو په وسیله پوره کیږي:

څه وخت چې مونږ خدای ته انتظار وباسو:

الف) آسماني پلار ته خپل رازونه وایو.

ب) د هغه لارښودنې یا ځواب ته انتظار کوو.

ت) مونږ فقط خاموش یو او زمونږ ذهن په بل ځای کښې چکر وهي.

ث) په آرامۍ او خاموشۍ کښې د هغه عبادت کوو.

## خپل ځوابونه سره مقایسه کړئ

۱ـ الف) پلار

ب) قدوس

ت) پادشاهي، آسمان، ځمکه

۲ـ تول

۲ـ الف) صحیح

ب) غلط

ت) صحيح

ث) غلط

۷_ ستاسو خپل ځوابونه، کيداى شي چې تاسو خداى ته په نږدې والي، د هغه په حضور کښې خوشحالۍ، د محبت څخه ډکيدلو، قوت، آرامۍ او دې ټکي ته اشاره وکړئ چې مونږ د داسې شخص عبادت کوو چې هغه يې لايق دى.

۳_ ت او ث

۸_ د خداى سره د ډيرو خصوصي خيالونوشريک کول او د هغه دپاره انتظار کول ترڅو زمونږ سره خبرې وکړي.

۴_ الف او ث

۹_ الف) غلط

ب) صحيح

ت) غلط

ث) صحيح

۵_ الف) سوال کول

ب) شکرګذاري

ت) شفاعت کول

ث) عبادت

ج) شفاعت

د) عبادت

ذ) شکرګذاري

ر) سوال کول

۱۰_ الف، ب او ث

ځلورم لوست

# عبادت د خدمت له لارې

څو موده مخکښې زما انا د يوې ښځې کور ته لاړه چې د هغې سره د عيسی مسيح په باره کښې خبرې وکړي. خو هغې ښځې هغه په ډير قهر سره د کور څخه وا يستله او ورته وئې ويل چې بيا د هغې کور ته رانشي ځکه چې هغې نه غوښتل چې د عيسی مسيح په باره کښې څه واوري. کله چې زما انا دا خبره ما ته وکړه، هغې ته مې وويل، "هغې ښځې تا ته ډيرې بدې خبرې کړې دي خو تا د بشارت کار تر سره کړی دی او اضافه کار ته ضرورت نشته." انا مې وويل، "ما د هغې دپاره د مڼو کيک پوخ کړ او ورته مې يوړ."

ما د خپلې انا د دې کار څخه يو درس زده کړ، زه اکثره وخت هغه خدای ته د عبادت په حال کښې وينم چې لاسونه ئې پورته کړي او په دعا کولو سره د خدای عبادت کوي. مګر په هغه ورځ زه پوه شوم چې هغې د خدای د عبادت څخه ډير لوی کار په الفاظو او سندرو ويلو کښې کړی دی. هغې د خپلو

عملونو په وسیله د خدای عبادت وکړ. زمونږ کړه وړه باید مسیح ته زمونږ د مینې څرګندوونکي اوسي.

## هغه څه چې په دې لوست کښې به یې ولولئ

- ❖ کامل خدمت
- ❖ په خدمت کولو کښې زمونږ د فکر او کردار طریقه

## دا لوست به تاسو سره مرسته وکړي ترڅو...

- وکولی شئ هغه خصوصیات چې عیسی په خدمت کولو کښې درلودل د هغه څه سره مقایسه کړئ چې ستاسو په اوسني ژوند کښې موجود دي.
- هغه کړه وړه تشریح کړئ کوم چې د عبادت په عمل باندې د خدمت د بدلولو دپاره لازم دي.
- د خدمت له لارې د خدای د عبادت د درک کولو اهمیت.

## کامل خدمت

یو ځوان سړي پوښتنه وکړه "ته څه وخت د خدای دپاره کار نکوې؟ بیشکه ته په یو وخت کښې یوځلې څو ورځې لرې چې په کښې وزګار ئې." هغه سړي داسې فکر کاوه چې مسیحیت خدای ته د کار کولو په معنی دی خو ایماندار کیدل یو داسې

کار نه دی چې په ورځ کښې اته ساعته دوام وکړي، بلکه یو نوی ژوند دی. خدای ته زمونږ خدمت د ساه ایستلو په شان اهمیت لري ترڅو ژوندي پاتې شو. مونږ نه غواړو چې د خپل توان او وخت د یوې برخې څخه د خدای د خدمت دپاره کار واخلو او یا یوازې هغه وخت چې مونږ سره د خدمت کولو احساس وي بلکه باید همیشه له خپل ټول زړه، فکر او توان سره د خدای خدمت وکړو. کامل خدمت په دې معنی دی چې مونږ ووایو، "ای څښتنه، زه حاضر یم. زه تیار یم چې په هر وخت، په هرځای کښې او په هر قسم شرایطو کښې چې وغواړې زما څخه کار واخلې." په رومیان ۱۲: ۱ کښې داسې لولو، "مونږ هغه وخت رښتینی عبادت کوو چې خپل ځانونه خدمت ته وقف کړو."

د پوره وقف کیدلو ډیر ښه مثال عیسی مسیح دی. هغه د بل هر انسان په شان ډوډۍ خوړله، ویده کیده، کار او آرام ئې کاوه. خو د هغه زړه او فکر همیشه د خدای د ارادې د پوره کولو دپاره تیار و (یوحناه ۱۵: ۱۰). هغه تل د نورو خدمت کاوه.

هغه په روحاني لحاظ خلکو ته خدمت کاوه. هغوی ته ئې تعلیم ورکاوه، د هغوی دپاره ئې دعا کوله او تردې چې ژړل ئې. همدارنګه هغه د خلکو د جسماني ضرورتونو په فکر کښې و او هیڅکله ئې د دردمند او ناروغه نفر څخه مخ نه اړاوه.

یوه ورځ هغه د یوې غریبې کونډې ښځې چې د نائین څخه وه مړ زوی راژوند کړ. هغې کونډې ښځې بغیر د هغه زوی څخه بل څوک نه درلود چې د هغې اړتیاوې پوره کړي. عیسی حتی د هغو وږو شاګردانو دپاره چې ټوله شپه د ماهیانو په لټه کښې وو، هم ډوډۍ تیاره کړه. هغه د هغو خلکو خدمت کاوه چې د ټولنې څخه شړل شوي وو. هغه به د خلکو بلنو ته مثبت ځواب ورکاوه ترڅو د هغو خلکو سره واوسي چې د خپلې ټولنې څخه رټل شوي وو. هغه د ګناهکارانو دوست و، عیسی د انسانانو یعنې هغه چا خدمت کاوه کوم چې هغه په خپله پیدا کړي وو.

آیا دا صحیح ده چې مونږ د هغه څخه کم خدمت وکړو؟ نه، زمونږ مقصد باید دا وي چې مونږ د عیسی په شان شو. کیدای شي چې ښځتن تاسو ته د تعلیم ورکولو یا د وعظ کولو وظیفه درنکړي، خو تاسو باید یو زړه سواندی او له محبت څخه ډک مسیحي اوسئ. خلک د دې محتاج دي چې یو څوک د هغوی سره دوستي وکړي او د هغوی په فکر کښې اوسي او ستاسو مینه کولی شي چې هغوی د خدای مینې ته متوجه کړي.

د خدمت له لارې عبادت کول د خپلو ځانونو، څه چې لرو او څه چې یو د ټولو د هدیه کولو په معنی دی، یعنې زمونږ د انرژۍ او وخت هدیه کول. مونږ کولی شو چې یو چا ته د مینې خبره وکړو او یا روغتون ته د کوم مریض د پوښتنې دپاره ورشو

یا یو چا ته یوه دوستانه موسکا وکړو. ځښتن غواړي که مونږ غریبان یو یا دولتمند، محتاج اوسو یا نه اوسو، څه چې لرو باید دې ته تیار اوسو هغه د خدای د لارښودنې له مخې ورکړو او د نورو سره ئې وویشو.

د خدای کلام دا نه وائي چې د شاهدۍ ورکولو دپاره کار وکړئ بلکه په خپله شاهدان اوسئ (اعمال ۱: ۸). که چیرې غواړئ په هره خبره او هر عمل کښې د خدای د محبت شاهدان اوسئ، دا دعا تکرار کړئ: "ګرانه پلاره، زما هیله دا ده چې ستا عبادت یوازې په خبرو نه بلکه د خپلو عملونو په وسیله وکړم. نو مخکښې له دې چې د یوه حالت په مقابل کښې غبرګون وښایم او کومه فیصله وکړم، دا دعا کوم چې روح القدس ما ته ووائي چې په کوم کار به ته خوشحاله شې. نو ای ځښتنه، زما سره مرسته وکړه چې ستا اراده پوره کړم. پریږده چې ستا محبت زما په وسیله داسې وځلیږي چې نور خلک هم وغواړي چې د عیسی مسیح په شان شي." آمین!

## هغه څه چې تاسو یې باید سرته ورسوئ

۱_ لاندیني آیتونه د کوم ډول خدمت څرګندوونکي دي؟

الف) متي ۸: ۱_ ۳) ۱) وږیو خلکو ته ډوډۍ ورکول

ب) متي ۸: ۲۳_ ۲۲ ۲) د

ویرې او

پریشانۍ له
منځه وړل

ت) لوقا ۹: ۱_ ۲
ث) یوحنا ۲: ۱_ ۱۳
ج) یوحنا ۱۳: ۱_ ۵

۳) ناروغانو ته شفا ورکول
۴) هغه مینه چې په عمل کې لیدل کیږي.
۵) د ټولنې څخه د شړل شویو خلکو قبلول

۲_ یعقوب ۲: ۱۴_ ۱۷ ولولۍ او لاندینی عبارت پوره کړۍ:
یوازې ایمان کافي ندی بلکه په ..........دې ثابت شي.
۳_ د لاندینو بیان شویو موضوعګانو په پام کښې نیولو سره واضیح کړۍ تاسو په هر حالت کښې کوم کار کولی شۍ تر سره کړۍ ترڅو د خپل خدمت له لارې د څښتن عبادت وکړۍ.
الف) ستاسو پاستر(شپون) د دې اعلان کوي چې مونږ باید نوې کلیسا جوړه کړو.
ب) ستاسو ګاونډی ناروغه دی او څوک نشته چې د هغه په کورنۍ باندې پام وکړي.

## په خدمت کولو کښې زمونږ د فکر او کردار طریقه

کله چې سموئیل نبي غوښتل چې یو ښکلی ځوان د اسرائیلو د پادشاه په توګه مسح کړي، څښتن هغه د دې کار څخه منع کړ او وئې ویل، "څښتن داسې قضاوت نکوي لکه څنګه چې انسان قضاوت کوي، ځکه چې انسان ظاهري شکل ته ګوري مګر زه زړه ته ګورم"(سموئیل ۱۲: ۷).

زمونږ په ظاهري شکل کښې زمونږ عملونه او زمونږ ځیره شامله ده. کله کله زمونږ عملونه داسې نه وي لکه څنګه چې باید وي. کله کله کیدای شي چې مونږ ته یو کار راوسپارل شي مګر لکه څنګه چې مونږ ئې هیله لرو هغه په بریالیتوب سره ترسره نکړای شو. مګر که چیرې په دې پوه شو چې څښتن زمونږ عملونه ویني او پوهیږي چې مونږ څه غواړو چې وئې کړو نو مونږ کولی شو چې په ډاډه زړه خپل کار ته دوام ورکړو. همدارنګه څښتن دا هم ویني چې مونږ په ظاهره هڅه کوو چې د یو مسیحي کارونه وکړو مګر زمونږعمل د زړه له کومي او صادقانه نه دي. که چیرې زمونږ کړه وړه صحیح نه وي نو زمونږ ډیر ښه عملونه به هم زمونږ په عبادت کښې حساب نشي. مقدس کلام مونږ ته لارښودنه کوي چې په ورکړه کښې د اخیستلو په پرتله برکت زیات وي. زمونږ د څښتن عیسی مسیح په نوم ورکړه د یو مسیحي دپاره لوی فخر دی. نو چا چې په خپل زړه کښې د کوم شي د ورکولو پریکړه کړې وي د هغې په مطابق دې ورکړي نه په جبر او پښیمانۍ په ښودلو سره. "ځکه هغه څوک په خدای باندې ګران وي چې په خوشحالۍ سره ئې ورکوي او هغه دا قدرت لري چې تاسو ته هر قسم برکت درکړي ترڅو تاسو دومره څه ولرئ چې ستاسو دپاره کفایت وکړي او حتی له هغې څخه هم زیات" (دوهم قرنتیان ۹: ۷_ ۸).

زمونږڅښتن هر څه په ډیر سخاوت سره ورکوي. هغه بخښونکی خدای دی او د هغه دا خوښه ده چې ایمانداران هم

دا خصوصيات ولري. په روميان ۱۲: ۸ کښې راغلي دي: "د ورکړې خاوندبايد سخي، پوه او زياركښ اوسي." زمونږ نيکي بايد فقط زمونږ د وجدان د آرامولو دپاره نه وي بلکه په دې باندې بايد پوه شو چې دا د خداى له خوا يوه وظيفه ده. زمونږ صدقې ورکول بايد دخوشحالۍ او سخاوت له مخې وي. مګر د خداى کلام د بخشش په ورکړه کښې يوې بلې مهمې ځانګړتيا ته اشاره کوي، فرض کړئ تاسو يو څه اضافه پيسې ترلاسه کوئ او د هغو څخه يو څه د خداى د رضا په مطابق د هغه د خدمت دپاره مصرفوئ. تاسو دا کار په خوشحالۍ او سخاوت سره وکړ او وروسته متوجه شوئ چې هغه يو مبارک کار و خو ستاسو د نوم يادونه په کښې نه وه شوې. او دا به داسې ښکاره شي چې تاسوخپلې پيسې له لاسه ورکړې او د هغو په بدل کښې مو هيڅ ترلاسه نکړل. تاسو سره به څه احساس پيداشي؟ نو دا به خامخا ستاسو د خفګان سبب شي. ځکه مونږ دا خوښوو څه چې له لاسه ورکوو په بدل کښې به ئې څه واخلو. نيکۍ ته هڅوونه کوم بد کار نه دى، خو عيسى مونږ له هغو څخه زياتې بدلې ته متوجه کوي.

"خو کله چې تاسو چا ته صدقه ورکوئ نو ستاسو کيڼ لاس بايد ستاسو د ښي لاس څخه چې صدقه ورباندې ورکوئ خبر نشي. ستاسو د صدقې ورکولو څخه بايدهيڅوک خبرنشي، او هغه پلار چې هيڅ شى د هغه د سترګو څخه پټ ندي هغه به تاسو ته اجر درکړي" (متي ۲: ۳_۴).

په دې ځاى کښې ښتن د عاجزۍ په باره کښې خبرې کوي، د هغې ورکړې په باره کښې خبرې کوي چې د غرور او صفت څخه خالي وي، يعنې هغه ورکړه چې په هغو کښې ښتن د برکت وعده ورکړې ده.

نورو ته ئې ورکړئ، نو خداى به تاسو ته درکړي. ځينې اجرونه مونږ دلته يعنې په اوسني ژوند کښې ترلاسه کوو، خو لوى اجر به مونږ ته هغه وخت راکړاى شي کله چې مونږ د خداى په حضور کښې ودريږو او هغه زمونږ د هغو کارونو څخه مننه وکړي چې د هغه دپاره مو کړي دي. متي **۲۵: ۳۴_۴۰** دا موضوع ډيره ښه روښانه کوي. "بيا به پادشاه هغو خلکو ته چې د هغه په ښي خوا کښې ولاړ دي، ووائي، "هغو خلکو چې زما د پلار له خوا مو برکت موندلى دى راشئ! راشئ او د هغې پادشاهۍ وارثان شئ چې د دنيا د پيداکيدلو څخه مخکښې ستاسو دپاره تياره شوې ده. ځکه کله چې زه وږى وم تاسو راته ډوډۍ راکړه، کله چې تږى وم ، ماته مو اوبه راکړې، کله چې مسافر وم، نو زه مو خپل کورته بوتلم، کله چې زه لوڅ وم نو کالي مو راته واغوستل، کله چې ناروغ وم ، زما پوښتنې ته راغلئ، کله چې په زندان کښې وم نو زما ليدلو ته راغلئ." هغه وخت به نيکان خلک په ځواب کښې ووائي، "ته مونږ کله وږى ليدلى يې چې تاسو ته به مو خوراک درکړى وي؟ کله مو تږى ليدلى يې چې اوبه به مو درکړې وي؟ کله مسافر وې چې کور ته به مو بيولى يې؟ يا لوڅ وې او مونږ درته کالي اغوستي دي؟

کله ناروغ یا بندي وې چې مونږ به دې لیدلوته درغلي یو؟" پادشاه به په ځواب کښې وائي، "زه تاسو ته وایم، څه چې تاسو زما د ډیرو کوچنیو ورونو څخه د کوم ورور سره کړي دي، هغه مو زما سره کړي دي!""

آیا دا د مقدس کلام یوه ډیره ښکلې برخه نه ده؟ حتی که چیرې تاسو د یو داسې نفر سره مینه کوئ چې تاسو ته سم جواب نه درکوي بیا هم دا دومره مهمه خبره نه ده. څښتن ټول شیان ویني او هغه داسې ګڼي چې د هغه دپاره مو کړي دي. د آسماني اجر اهمیت چې مونږ به ئې د څښتن له خوا ترلاسه کوو دومره زیات دی چې مونږ هغې ورکړې ته رابولي چې د سخاوت، خوشحالۍ او عاجزۍ سره وي.که دا کار کله کله مونږ ته ډیر سخت هم ښکاري خو څښتن به زمونږ سره مرسته وکړي. څښتن به مونږ ته هغه برکت او قوت راکړي چې مونږ ورته اړ یو.

## هغه څه چې تاسو یې باید سرته ورسوئ

۴_ متي ۵: ۳۴_ ۴۸ ولولئ او ووایئ چې په هغه ورکړه کښې چې په خوشحالۍاو سخاوت سره وي زمونږ دپاره څوک مثال کیدای شي؟

۵_ د مکاشفې ۲۲: ۱۲ له مخې څښتن به ژر.......او هر سړي ته به د هغه د ........له مخې بدله ورکړي.

۶_ لوقا ۱۴: ۱۲_ ۱۴ ولولئ.

الف: عيسی وائي چې څه قسم خلک بايد ميلمستيا ته راوبولئ،

ب: څوک به درته اجر درکوي.

۷_ کومې درې طريقې دي چې مونږئې بايد د خدمت له لارې خدای ته په عبادت کولو کښې خپلې کړو؟

## خپل ځوابونه مقايسه کړئ

۱_ الف) ۳

ب: ۲

ت: ۵

ث: ۱

ج: ۴

۵_ راشي؛ د هغه د عملونو

۲_ عملونه يا کارونه

۶_ الف) غريبان، فلج او شل خلک او ړانده

ب) خدای

۳_ الف) تاسو کولی شئ د دې کار څخه مالي ملاتړ وکړئ او يا د هغه په جوړولو کښې په فعاله توګه ګډون وکړئ. د مثال په ډول د ساختماني چارو دپاره مصاله تياره کړئ او په خپله هم د هغه د جوړولو دپاره کار وکړئ.

ب) په هغه او د هغه په اولادونو باندې پام وکړئ. د هغوی دپاره خواړه برابر کړئ. داسې خلک راپيدا کړئ چې په

دې کار کښې تاسو سره مرسته وکړي. دا په ياد ساتئ چې هغه کار چې د عيسی په نوم سرته رسول کيږي هغه يو ډول عبادت دی.

۷ـ خوشحالي، سخاوت او عاجزي.

۴ـ زمونږ پلار چې په آسمان کښې دی.

پنځم لوست

# عبادت په موسیقۍ کښې

موسیقي له کومه ځایه شروع شوه؟ په دې اړه مونږ نشو کولی چې یو نژاد یا یوې خاصې ډلې ته اشاره وکړو. ځکه چې ټولو د هغو د یو ډول څخه ګټه اخیستله. حتی په ډېر لرغوني تمدن کښې هم ډول او یا د موسیقۍ نور آلات شته چې د هغو په وسیله د سندرو په ویلو سره خپله خوشحالي او غم څرګندوي. مقدس کلام هم دې مطلب ته اشاره کوي. په ایوب ۳۸ : ۷ کښې لولو چې د دنیا د پیدایښت په وخت کښې ستورو به په سهار کښې یو دبله سره سندرې ویلې او آسماني موجوداتو به د خوشحالۍ چیغې وهلې. موسیقي د دنیا د پیداکیدو څخه مخکښې په آسمان کښې شروع شوه.

د موسیقۍ اهمیت په دې کښې دی چې هغه کولی شي زمونږ په احساساتو باندې اثر وکړي او حتی زمونږ په بدن کښې بدلون راولي. که چیرې د هغې څخه په ښه توګه ګټه وانه اخیستل شي نو کیدای شي چې د شیطان د لاس آله وګرځي. خو که چیرې له هغې څخه په صحیح توګه کار واخیستل شي نو

کولی شي چې مونږ خدای ته نژدې کړي او زمونږ د آرامۍ سبب وګرځي. مقدس کلام مونږته د سندرو د ویلو او د موسیقۍ د آلاتو څخه د ګټې اخیستلو له لارې د عبادت مثالونه راکوي چې کیدای شي د خدای په عبادت کښې زمونږ لارښود اوسي.

## هغه څه چې په دې لوست کښې به یې ولولئ

- ❖ د سندرو په ویلو سره خدمت کول
- ❖ د موسیقۍ د آلاتو په وسیله خدمت کول
- ❖ د موسیقۍ له لارې برکت موندل

## دا لوست به تاسو سره مرسته وکړي ترڅو...

- دا معلومه کړئ چې کوم ډول موسیقي د مقدس کلام د عبادت بیانوونکې ده.
- د هغو دلیلونو بیانول چې ولې ځینې سندرې د خدای د خدمت په خاطر دي، ځینې یې خلکو ته د خدمت په خاطر او ځینې یې د هیچا د خدمت په خاطر.
- د قدرت، بدلون او هغې آزادۍ د موندلو دپاره شوقمند کیدل چې د عبادت موسیقي یې په یوه ایماندار کښې راپیدا کوي.

## د سندرو په ویلو سره خدمت کول

د مسیحیانو سرودونه د زبور د کتاب څخه اخیستل شوي دي، ځکه چې د زبور کتاب د یهودو د قوم د عبادت یو کتاب و. هغوی د خوشحالۍ د ورځو دپاره خاص مزامیر لرل (لکه ۸۱ زبور) او د توبې او بخښنې دپاره ئې خاص مزامیر لرل (لکه ۵۱ زبور). البته د مزامیرو نور ډولونه هم شته خو د هغوی څخه اکثره ئې د شکرګذارۍ او د خدای د ستاینې مزامیر دي. نوې لوظنامه مونږ ته هڅوي چې د عبادت سندرې ولولو. د مسیحیانو اوسني سرودونه هم لکه د مزامیرو د سرودونو په شان قسم قسم دي. په خاصو شرایطو کښې خاصې سندرې ویل کیږي. د ماتم، واده یا د یو شي د غوښتلو او یا عبادت په وخت کښې د هماغو شرایطو له مخې سندرې ویل کیږي. هر ډول سندره ځانله خاص مقصد لري. هغه سندره چې وایي، "لکه څنګه چې یم هماغسې به تاسو ته راځم." دا سندره ګناهکار دې ته هڅوي چې خدای ته رجوع وکړي او بې له دې چې لاژمه وي کوم کار وکړي. او یا هغه سندره چې وایي، "ای څښتنه، زما پلټنه وکړه." دا د یو ایماندار سره مرسته کوي چې د خدای د روح په وسیله خپل ځان په بشپړه توګه خدای ته وسپاري. ځینې نورې سندرې شته چې مونږ دې ته هڅوي چې خپل ځانونه خدای ته وقف کړو. هغه ته وایو، "هر څه چې وغواړې زه به یې سرته ورسوم ځکه چې ته یې لایق یې." د دې سندرو په وسیله مونږ خدای ته وایو چې مونږ غواړو چې په خپل وجود سره د

هغه تابعداري وکړو. د سندرې د ويلو په وخت کښې کله کله د هغه په عبادت کښې غرق لاړ شو او تاسو به وايئ چې خپل ځان هيروو. ځينې مسيحيان د عبادت دې ډول ته پاملرنه نکوي ځکه هغوی فکر کوي چې ښکلی آواز نلري. خو دا مو بايد په ياد وي چې مونږ د خپل ځان يا نورو دپاره سندرې نه وايو بلکه خپل عشق نيغ په نيغه خدای ته ښرګندوو. که څه هم نور خلک زمونږ آواز اوري مګر د نورو خلکو د صفت کولو پسې بايد ونه ګرځو.

څرنګه کولی شو چې د عبادت د سندرو فرق د سندرو د نورو ډولونو سره وکړو؟ لومړی دا چې د عبادت سندره زمونږ د اړتياوو او د مسيح خوا ته د يو ګناهکار د رابللو بيانوونکې نه ده، بلکه څښتن ته جلال ورکوي، د عيسی د لوی والي او نيک والي په باره کښې خبرې کوي، يعنې هغه سندرې چې مونږ د عيسی مسيح آسماني ماڼۍ ته بيايي او مونږ د خپل چاپيريال څخه راوباسي، يعنې هغه ساده سندرې دي چې د آسماني پلار ستاينه کوي.

"تر ابده پورې به د څښتن د رحمتونو سندرې وايم، زه به تول ستا په وفادارۍ باندې خبروم. ځکه زه پوهيږم چې ستا مينه ابدي ده او ستا وفاداري د آسمان په شان دايمي ده" (زبور ٨٩: ١-٢).

## هغه څه چې تاسو يې بايد سرته ورسوئ

۱ـ صحيح عبارت په ګوته کړئ.

د عبادت سندرې د نورو سندرو سره فرق لري ځکه چې:

الف) هميشه په آرامۍ سره وي

ب) مونږ ته خپلې خطاګانې رايادوي.

ت) يوازې خدای ته جلال ورکوي.

ث) ګناهکاران د مسيح خواته رابولي.

۲ـ لاندينی عبارت د ورکړل شويو ځوابونوپه وسيله پوره کړئ:

مزامير يهودي سندرې دي چې،

الف) ټولې د خدای د ستاينې دپاره دي.

ب) مختلف ډولونه لري.

ت) د لرغون توب له کبله معنی نلري.

۳ـ د لاندينيو سندرو څخه کومې سندرې د عبادت سندرې دي؟

الف) هر چيرته چې وغواړې زه ځم.

ب) دا دنيا زما کور نه دی.

ت) قدوس، قدوس، قدوس دی څښتن تعالی.

ث) په ما باندې ګران يې. ای زما خلاصون ورکوونکيه.

## د موسيقۍ د آلاتو په وسيله خدمت کول

د موسيقۍ د آلاتو په وسيله د خدای د عبادت يادونه په زړه لوظنامه کښې شوې ده او د موسيقۍ د مختلفو آلاتو نومونه په کښې اخيستل شوي دي. بادي آلې لکه شپيلۍ، سرنی. تار لرونکي آلات لکه چنګ او رباب او وهونکي آلې لکه ډول او تال. نو په دې اساس مونږ د هرې آلې په وسيله چې لرو يې، بايد د خدای ستاينه وکړو او که چيرې زمونږ مقصد د هغه عبادت کول وي نو فرق نکوي چې د کوم ډول آلې څخه کار اخلو. يو نفر کولی شي چې د يوې برقي آلې يا د ارکستر د رهبرۍ په وسيله د خدای عبادت وکړي او بل نفر کولی شي چې د تنبور يا د يوې ساده آلې په وسيله . مهم ټکی د خدای عبادت دی. آيا هغه مثالونه چې مونږ په زړه لوظنامه کښې وليدل هغه کيدای شي چې په عبادت کښې زمونږ لارښود اوسي؟ هو، لکه څنګه چې مونږ په تير درس کښې وليدل چې زمونږ کړه وړه او د فکر کولو طريقه بايد صحيح وي. له هرې لارې چې غواړو د خدای دپاره ښه کارونه وکړو ځکه چې هغه يې لايق دی. دا خبره د دې معنی نلري چې زه بايد د ارکستر يو ښه رهبر اوسم ترڅو د خدای عبادت وکولی شم بلکه په خپل ټول توان او پوهې سره اوس د هغه عبادت وکړم.

په عين حال کښې بايد دې ته متوجه اوسم چې زه دا موسيقي د دې دپاره نه غږوم چې ځان ښودنه وکړم، غرور کول

ګناه ده. باید په دې پوه شو چې زمونږ ټول قابلیت د خدای له خوا یو سوغات دی او باید په مینه د هغه په خدمت باندې مشغول اوسو، که نه نو زمونږ موسیقي به له شور څخه ډک تال څخه زیات کوم شی نه وي (اول قرنتیان ۱۳: ۱).

موسیقي مختلف ډولونه لري. ځینې خلک د لوړ آواز او ژوندۍ موسیقي خوښوي او ځینې خلک آرامه موسیقي خوښوي. له هغوی څخه هر یو یې په مسیحي عبادت کښې خاص مقام لري. باید دې ته متوجه اوسو چې د نورو ذوق باید په نظر کښې ونیسو. ځکه که چیرې مونږ هغوخلکو ته چې آرامه موسیقي خوښوي بل قسم موسیقي وغږوو نو په هغه باندې به ښه ونه لګیږي. د رومیان ۱۲: ۱۰ د دې اصل څخه چې "هر سړی باید د خپل ځان څخه زیات د بل احترام وکړي." د خپل ژوند په ټولو اړخونو کښې کار واخلو.

که چیرې خدای تاسو ته د موسیقۍ د غږولو وړتیا درکړې ده، له هغه څخه وغواړئ چې تاسو سره د زیري په رسولو کښې مرسته وکړي او د خپلې موسیقۍ په وسیله وکولی شئ دخدای سره د خلکو د اړیکو په زیات ټینګښت کښې مرسته وکړي. که چیرې دعا وکړئ نو هغه به تاسې ته د داسې موسیقۍلارښودنه وکړي چې د هغې په وسیله د نورو زړونه لمس کړئ. ښښتن تاسو د دې کار دپاره مسح کړي، او د سمې موسیقۍ په غږولو کښې به ستاسو لارښودنه وکړي. حتی تاسو به د یوازیتوب په وختونو کښې د خپلې موسیقۍ په

وسیله خپل ځان هغه ته وقف کړئ او په خپلو الفاظو اوسندرو سره به د هغه عبادت وکړئ.

موسیقي د خدای د ډیرو باارزښته سوغاتونو څخه ده چې انسان ته ئې ورکړې ده او مونږ کولی شو چې هغه د خپل ډیر قیمتي سوغات په توګه خدای ته وړاندې کړو.

## هغه څه چې تاسو یې باید سرته ورسوئ

۴ـ لاندیني آیاتونه د کوم ډول عبادت څرګندوونکي دي:

| | |
|---|---|
| الف) خروج ۱۵: ۱۹ـ ۲۰ | ۱) د عبادتخانې بیا جوړونه |
| ب) اول تواریخ ۱۵: ۲۸ | ۲) کله چې د لوظ صندوق لرې کړای شو |
| ت) عزرا ۳: ۱۰ | ۳) دښمنانو باندې د بریالیتوب له کبله |
| ث) مکاشفه ۱۴: ۲ | ۴) په آسمان کښې |

۵ـ دا جمله مکمله کړئ:
که چیرې موسیقي د خدای د سوغاتو څخه یو سوغات وي ، نو مونږ کولی شو چې ........................................

۶ـ د موسیقۍ په وسیله د خدای د عبادت په اړه صحیح عبارت په ګوته کړئ.

الف) باید یوازې د هغو آلاتو څخه کار واخلو چې په مقدس کلام کښې د هغو نومونه یاد شوي دي.

ب) که چیرې وغواړو چې خدای ته جلال ورکړو نو د هر قسم وسیلې څخه کار واخلو.
ت) حتیٰ په موسیقۍ کښې باید د خلکو احساسات او ذوقونه په پام کښې ونیسو.
ث) په یوازیتوب کښې کولی شو چې د موسیقۍ په غږولو سره خپل ځان خدای ته وقف کړو.

## د موسیقۍ په وسیله د برکت موندل

د دوهم تواریخ د کتاب په شلم فصل کښې د جنګ یو عجیبه داستان لولو. درې بې دینه قومونه سره یوځای شوي دي ترڅو د یهودا کوچنی قوم له منځه یوسي. د هغوی د شمیر د زیاتوالي سره سره د جنګ نتیجه معلومه وه. د یهودا قوم د خدای څخه مرسته وغوښتله، او څښتن د دې په ځای چې هغوی ته د جنګ پلان ورکړي، هغوی ته یې وویل چې په هغه باندې توکل وکړي. او یو شمیر خلک دې د یهودا د لښکرو په مخ کښې حرکت وکړي او صرف خدای ته دې سندرې ووایې.

"د څښتن ثناه ووایئ! ځکه د هغه مینه ابدي ده" (دوهم تواریخ ۲۰: ۲۱). څنګه چې هغوی په سندرو ویلو باندې شروع وکړه، څښتن د حمله کوونکو په منځ کښې ویره راپیداکړه، او په نتیجه کښې د دښمن عسکرو په خپلو کښې یو او بل سره له منځه یوړل او د خدای قوم ډیر غنیمتونه لاس ته راوړل او په

خوشحالۍ سره بیرته اورشلیم ته ستانه شول. ځکه چې څښتن هغوی ته په جنګ کښې بری ورکړی و او د چنګ او سرنیو په غږولو سره د خدای کور ته اورشلیم ته راغلل (دوم تواریخ ۲۰: ۲۸).

کیدای شي چې مونږ په اوسني وخت کښې د داسې جنګ سره مخامخ نشو، مګر دافسیانو شپږم فصل مونږ ته رایادوي چې زمونږ جنګ د وینې او جسم سره نه دی بلکه د شیطان سره دی. لکه څنګه چې د خدای قوم خپلو دښمنانو ته د عبادت په وسیله ماتې ورکړه ، نن هم زمونږ روحاني دښمنان د عبادت په وسیله ماتې خوري.

"نو د دغو شیانو په پام کښې نیولوسره مونږ څه ویلی شو؟ که چیرې خدای زمونږ ملاتړ اوسي ، څوک زمونږ په مقابل کښې ودریدلی شي؟ څوک کولی شي چې مونږ د خدای د محبت څخه لرې وساتي؟ آیا مصیبت، ستونزې، ځورنه، لوږه، نیستي، خطر یا مرګ......د دې ټولو شیانو سره سره د هغه په وسیله چې زمونږ سره مینه کوي مونږ به بشپړه توګه بریالي کیږو" (رومیان ۸: ۳۱، ۳۵ او ۳۷).

پولوس او سیلاس د انجیل د بشارت په خاطر په زندان کښې واچول شول (اعمال ۱۲). که څه هم هغوی په ډیرو بدو شرایطو کښې وو او زیات وهل شوي وو، هغوی دعا وکړه او د خدای د ستاینې سندرې ئې وویلې. یوناڅاپه سخته زلزله راغله

او هغه زنځیرونه چې د هغوی پښې ورباندې تړل شوې وې خلاص شول او ښځې ته هغوی د بند څخه آزاد کړل. د زندان ساتونکی له ویرې نیت وکړ چې خپل ځان وژني مګر پولوس هغه منع کړ او ډاډ یې ورته ورکړ چې هغوی نه دي تښتیدلي. د زندان ساتونکي وویل، "ای ښاغلیو، څه باید وکړم چې خلاصون ومومم." دا یوه داسې موقع وه چې پولوس او سیلاس غوښتله، نو هغه ته یې وویل، "په عیسی مسیح باندې ایمان راوړه چې د خپلې کورنۍ سره خلاصون ومومې."

د زندان ساتونکي او د هغه کورنۍ د تعمید غسل واخیست. پولوس او سیلاس یو بل بری هم ترلاسه کړ. نن هم خلک د موسیقۍ په وسیله د عبادت له لارې د عیسی خواته راځي. د جنوبي امریکا یو ګوریلایي جنګیالی یوې کوچنۍ کلیسا ته ځي او د هغوی د سندرو په اوریدلو سره خپل ځانون ښځـتن ته سپاري.

کله کله خلک د سرودونو په اوریدلو سره د خدای د حضورۍ احساس کوي.که چیرې د خدای دپاره سرودونه وویل شي نو د خدای روح کولی شي چې له همدې لارې د خلکو زړونه لمس کړي. کیدای شي چې تاسو له مختلفو لارو څخه د دې ازمایښت سره مخامخ شئ.

کله کله کیدای شي چې د یو سرود د اوریدلو په وسیله خپلې ستونزې هیرې کړئ او وغواړئ چې د نورو سره مرسته

وکړئ. د خدای موجودیت درک کوئ چې غواړي ستاسو سره مرسته وکړي. د سرود په وسیله درته یو نوی امید پیدا کیږي. د دوهم تواریخ د کتاب په ۵: ۱۴ کښې لولو چې " کاهنانو د وریځو له کبله ونشو کولی چې د خدمت دپاره ودریږي، ځکه چې د خدای کور د څښتن په جلال کښې پټ شوی و." کاهنان د ویرې او خاموشۍ په حال کښې د خدای په حضور کښې ولاړ وو. کله چې تاسو د غم یا یوازیتوب احساس کوئ نو د څښتن دپاره د عبادت یو سرود ووایئ. کله چې ویریږئ نو څښتن ته سندرې ووایئ. هغه به ستاسو زړه د خوشحالۍ څخه ډک کړي. که چیرې د یوې ډلې سره هغه ته سرود ووایئ نو زیات قوت به وموميئ. ځکه مونږ ټول پوهیږو چې په یووالي کښې قوت وي. مونږ کولی شو چې د یو شرمندوکي سړي سره مرسته وکړو چې څښتن ته سندرې ووايي. هغه چې زمونږ څخه ویره لیرې کړې ده کولی شي چې دا کار د نورو په اړه هم وکړي. څه وخت چې مونږ په عبادت کښې غرق یو،خپلې مسئلې به په شکرګذارۍ سره هغه ته ووایو او په هر حال کښې برکت ترلاسه کړو. مګر په لومړي قدم مهمه خبره دا ده چې څښتن چې د عبادت لایق دی جلال وموميي، نه دا چې مونږ برکت ومومو. په ۱۰۰ زبور کښې لولو: "د هغه دروازو ته په شکرګذارۍ سره ورننوزئ او د هغه دربار ته په ثناه ویلو سره ورشئ، ځکه چې څښتن نیک دی او د هغه مینه ابدي ده. څښتن له اوس څخه تر ابدالابد پورې د عبادت لایق دی. راځئ چې په خوشحالۍ سره د هغه عبادت وکړو او په دې عبادت کښې خپله هم برکت ترلاسه کړو. مونږ د

دې تصور کولی شو چې ښتن څومره زمونږ په عبادت باندې خوشحالیږي. په حقیقت کښې هغه هم زمونږ دپاره سرود وایي.

"ښتن به په تاسو باندې ډیر خوشحاله شي او په خپله مینه کښې به تاسو ته نوی ژوندون درکړي. هغه به سرود ووایي او په تاسو باندې به ډیر خوشحاله شي (صفنیا ۳: ۱۷) هللویا.

## هغه څه چې تاسو یې باید سرته ورسوئ

۷ـ د لاندینیو خلکو څخه چا د خپلو ستونزو په وخت کښې د ښتن عبادت وکړ:

الف) د یهودا لښکرو.

ب) داود

ت) سیلاس

ث) ډیرو اوسني ایمانداړانو.

۸ـ صحیح عبارت په ګوته کړئ:

الف) د سرود په ویلو سره زمونږ عبادت نور خلک هم دې ته هڅوي چې د ښتن عبادت وکړي.

ب) خلکو یوازې د مسیح په زمانه کښې ښتن ته رجوع کوله، اوس دا کار نه کیږي.

ت) خدای د یهودا قوم ته وویل له بریالیتوب څخه وروسته د ښتن دپاره سندرې ووایئ.

ث) هغه عبادت چې د موسيقۍ په وسيله کيږي،
هغه کيداى شي چې د کليسايي سرودونو يا زمونږ د
خپلو سندرو په وسيله وشي.

۹ـ دا جمله پوره کړئ:

په زبور ۱۰۴: ۳۳ کښې لولو چې د سندر غاړى وايي: "ځښتن ته به سندرې ووايم تر څو....."

۱۰ـ د هغو دريو برکتونو نومونه واخلئ چې د هغه عبادت په وسيله زمونږ په برخه کيږي کوم د موسيقۍ له لارې سرته رسيږي. تاسو ته يو مثال درکړل شوى دى،

الف) د نورو ايماندرانو سره يووالى.

ب) ..........................................

ت) ..........................................

ث) ..........................................

## خپل ځوابونه مقايسه کړئ

۱ـ ت

۲ـ الف) غلط

ب) صحيح

ت) صحيح

ث) صحيح

۲ـ ب

۷ـ تهول

۳ـ ت او ث

۸ـ الف) صحيح
ب) غلط
ث) غلط
ج) صحيح
۴ـ الف) ۳
ب) ۲
ت) ۱
ث) ۴
۹ـ ژوندی به یم.
۵ـ هغه خدای ته هدیه کړو.
۱۰ـ د ویرې لرې کیدل، قوت موندل، د خوشحالۍ ښخه ډکیدل، د مسیح خواته د خلکو جذبول او .....

# ستاسو یادداشت

# اصولي عبادت

د باران څاڅکي ولې ښکته رالويږي او پورته نه ځي؟ لمر ولې د ختيځ له لوري راخيژي او په لويديځ کښې پريوځي؟ مونږ ولې د اوبو په ځای اکسيجن نه تنفس کوو؟ دا بې معنی سوالونه نه دي. ځکه چې پوهانو خپل زيات وخت د هغو په ځوابونو باندې لګولی دی. هغوی دا معلومه کړېده چې په دنيا کښې داسې قوانين موجود دي چې کائنات او څه چې په هغه کښې دي ټول د داسې قوانينو پوسيله اداره کيږي چې نوموړي شيان ئې په ترتيب سره ساتلي دي. دا د طبعيت قوانين دي چې څښتن پيداکړي دي. د دې قوانينو څخه پرته زمونږ ژوند له منځه ځي او په همدې ډول که چيرې مونږ د هغو معنوي او روحانې اصولو څخه چې خدای راپيداکړي دي پيروي ونکړو، نو مونږ نشو کولی چې هغه خوشحاله کړو او کامل شو.

د مثال په ډول که چيرې څوک توبه وباسي او عيسی مسيح د خپل خلاصوونکي په توګه قبول نکړي هغه نشي کولی چې خلاصون ومومي. څښتن مونږ ته د عبادت دپاره هم څه

اصول راکړي دي چې د هغو څخه ځينې يې مونږ مخکښې وڅيړل. آيا هغه درې خصوصيات مو په ياد دي چې د يو عبادت کوونکي دپاره ضروري دي؟ چې هغه مو په لومړي درس کښې ولوستل چې عبارت دي له عاجزۍ، تابعدارۍ او محبت څخه. له بلې خوا څخه مونږ کولی شو چې خپل عبادت د دعا، خدمت او موسيقۍ له لارې څرګند کړو.

په دې درس کښې به مونږ ووينو چې څنګه کولی شو چې د يو ګټهور مسيحي عبادت دپاره تيار شو.

## هغه څه چې په دې لوست کښې به يې ولولئ

- ❖ باطني تيارى
- ❖ د عبادت ظاهري بيان

## دا لوست به تاسو سره مرسته وکړي ترڅو...

- دا روښانه کړئ چې د يو ګټهور عبادت دپاره بايد د څه قسم معنوي او روحاني تياري لرونکي اوسو.
- له کومې طريقې څخه په ګټې اخيستلو سره کولی شو د ښبنتن عبادت په هغه شان وکړو کوم چې په مقدس کلام ورڅخه يادونه شوې ده.
- خپل عبادت دخداى د ربښتيني کلام د عبادت په رڼا کښې وازمايئ.

## باطني تیاری

د خدای د عبادت دپاره په صحیح تیاری کښې درې خاصیتونه شامل دي چې هغه زمونږ په باطني ژوند کښې د پاکۍ، صفاوالي او هوښیارۍ څخه عبارت دي. ځکه له هغو پرته نشو کولی چې د خدای عبادت لکه څنګه چې هغه یې لایق دی وکړو.

## پاکوالی

پاکوالی یعنې دا چې مونږ د خدای په حضور کښې بې ګناه ودریږو. او دا کار به ناشونی وي که چیرې هغه مونږ ونه بخښي او پاک مو نکړي.

"ای خدایه، د خپل رحمت له کبله په ما باندې رحم وکړه. زما ګناهونه لرې کړه، ټولې بدۍ راڅخه ایسته کړه او ما دخپلو ګناهونو څخه پاک کړه" (زبور **۵۱**: ۱_ ۲).

یوه ښځه چې سر ئې سخت درد کاوه کلیسا ته لاړه او د کلیسا کشیش هغې ته وړاندیز وکړ چې د خپل درد د شفا دپاره دعا وکړي. مګر هغې وویل، "آیا تاسو نشئ کولی چې زما دپاره دعا وکړئ ځکه چې نن مې خپل زامن بې له کوم دلیله ورټل." کشیش له هغې څخه وغوښتل چې لومړی د ښتن څخه د خپلو ګناهونو بخښنه وغواړي. هغې ښځې دا کار وکړ او شفا یې ومونده. د هغې ښځې دپاره د دې ټکي درک کول

چې څښتن د هغې غوښتنه قبلوي د سر دردی، د شفا موندلو څخه ډیر مهم و. آیا د دې معنی دا ده چې مونږ آزادي لرو چې هر څه وغواړو هغه وکړو، ځکه چې د خدای بخښنه هیڅ پای نلري؟ په اول یوحنا ۳: ۹ کښې داسې لولو: "څوک چې د خدای زوی وي هغه نشي کولی چې په ګناه کښې ژوند تیر کړي. ځکه چې په هغه کښې د خدای ذات موجود دی او نشي کولی چې په ګناه کښې واوسیږي، ځکه چې خدای د هغه پلار دی." یوحنا د دې یادونه کوي چې یو مسیحي نشي کولی په قصد سره ګناه وکړي مګر دا چې د هغه په هغو اړیکو باندې تاثیر ونکړي چې د خدای سره یې لري. که چیرې داسې کار وشي، باید توبه وباسو. که چیرې مونږ د عیسی سره مینه کوو او په دې باندې پوه شو چې هغه زمونږ د ګناهونو د پاکولو دپاره کومه بیه ادا کړې ده، نو مونږ به هڅه وکړو چې پاک او بې داغه ژوند تیر کړو.

## هغه څه چې تاسو یې باید سرته ورسوئ

۱_ لاندینی عبارت د ورکړل شویو ځوابونو په پام کښې نیولو سره پوره کړئ:

د خدای په حضور کښې پاکوالی یعنې،

الف) هیڅکله ګناه ونکړو.

ب: خپله ټوله هڅه باید وکړو چې نیک اوسو.

ت) دعا وکړو او په دې باندې ډاډه اوسو چې څښتن زمونږ ګناهونه بخښي.

## رڼ والی (شفافیت)

له هغې وروسته چې څښتن مونږ پاک کړو، باید پاک پاتې شو. په دې معنی چې د خدای سره زمونږ په اړیکو کښې کوم زیان پیدا نشي. یو پخواني سرود کښې ویل شوي دي: "زمونږ او خدای ترمنځ هیڅ تیاره وجود نلري او له همدې کبله د هغه مخ وینو او هیڅ شی د هغه د رحم او مینې خنډ نشي کیدای. هغه لاره پاکه وساتئ ترڅو هیڅ کوم خنډ په منځ کښې نه وي."

پولوس رسول یو مقصد درلود چې د هغه په لور روان و. "زه په مستقیمه توګه د خپل مقصد خواته ځغلم ترڅو هغه انعام په لاس راوړم چې په هغه کښې د عیسی مسیح په وسیله یو نوي آسماني ژوند ته د خدای بلنه شامله ده" (فلیپیان ۳: ۱۴).

په اعمال ۲۴: ۱۲ کښې لولو: "نو زه د یوې داسې هیلې په لرلو سره زیات کوښښ کوم چې په هر حال کښې د خدای او انسان په وړاندې پاک وجدان ولرم."

خو مونږ څنګه کولی شو چې همیشه دې زمونږ وجدان پاک وي؟ د ځینو مسیحیانو سره دا سوال پیدا کیږي او د خدای د نارضایۍ له ویرې خپل ټول ژوند په ویره کښې تیروي.

او هغوی همیشه د خپلو ځانونو د ازمایلو په حال کښې وي او خپل هر عمل څیړي. د دې کار نتیجه د هغه کور په شان ده چې په ډیره کمه رڼایې کښې هغه پاکیږي. ځکه کیدای شي کوم ځای چې ناپاکه وي هغه ونه وینو او کوم ځای چې پاک وي هغه بیا پاک کړو. زبور ۱۳۹: ۲۳_۲۴ مونږ ته ډیره ښه لاره راښئ. "ای څښتنه، ما وازمایه، زما په زړه باندې پوه شه او زما خیالونه څرګند کړه، او وګوره چې په ما کښې کومه بدي شته او ترابده پورې ما ته لارښودنه وکړه."

څه وخت چې مونږ خدای ته د دې اجازه ورکوو چې مونږ وازمایي، هغه بې له دې چې مونږ محکوم کړي دا کار کوي. هغه زمونږ د کمزوریو څخه خبر دی، خو هغه نشي کولی چې ګناه ته حوصله وکړي ځکه چې هغه پاک دی. کله چې هغه زمونږ کومه غلطۍ مونږ ته راپه ګوته کړي باید د هغې اقرار وکړو او د هغه څخه د بخښنې غوښتنه وکړو.

"بختور دي هغه خلک چې خپلې چپنې پاکې ومینځي، هغوی به دا حق ولري چې د ژوندون د ونې څخه وخوري او د ښار دروازو ته به ورننوزي. مګر مرتد خلک، جادوګران، زناکاران، قاتلان، بت پرستان او هغه خلک چې په خبرو او عمل کښې دروغجن وي، هغوی به د ښار څخه بیرون پاتې شي" (مکاشفه ۲۲: ۱۴). همدارنګه د تثنیې د کتاب په ۱۸: ۹_۱۳ کښې هغو ګناهونو ته اشاره شوې ده چې کیدای شي کله کله هغو ته اهمیت ورنکړو، خو هغه ټول د خدای په وړاندې

مکروه دي. فال کتنه، د ارواح ګانو حاضرول یا بت پرستي او هغه ټول شیان چې زمونږ په ژوند کښې د خدای ځای نیسي هغه د شیطان دي. که چیرې تاسو سره په دې اړوند کوم کتابونه موجود وي، هغه وسوزوئ. حتی که تاسو د هغو څخه کار هم نه وي اخیستی، ځکه شیطان غواړي چې د همدې کتابونو په وسیله تاسو په دام کښې راګیر کړي. ځینې ګناهونه لکه دروغ ویل، دومره روښانه دي چې یو ماشوم هم کولی شي په هغو باندې پوه شي. خو شیطان غواړي چې هغه بې اهمیته وښایي. په دې ډول چې په ځینو حالاتو کښې مونږ هغه د خپلې شخصي ګټې په خاطر هم کوو. مګر مونږ باید پرینږدو چې دا شیان مونږ وویروي، ځکه چې څښتن وعده کړې ده چې مونږ به ساتي. "هغه دا توان لري چې تاسو د غورزیدلو څخه وساتي او تاسو بې عیبه او خوشحاله خپل حضور ته راولي" (یهودا ۲۴).

## هغه څه چې تاسو یې باید سرته ورسوئ

۲_ دا د چا مسئولیت دی چې وګوري چې آیا زما وجدان د خدای په حضور کښې پاک دي یا نه؟

## هوښیارتیا

کله کله مونږ په خپل ژوند کښې د داسې کارونو سره مخامخ کیږو چې هغه بد نه دي، خو مونږ دومره مشغول ساتې چې د دې دپاره وخت نلرو چې د خدای سره خپلې اړیکې

ټينګې کړو. د مثال په ډول، يوې ايماندارې ښځې زياته هڅه کوله چې د نورو سره د مرستې کولو په خاطر کالي وګنډي. حتى هغې به په نيمه شپه کښې هم کار کاوه او خپل د آرام کولو وخت به يې د مقدس کلام په لوستلو تيراوه. خو هغې نور نشو کولى چې کليسا ته لاړه شي، ځکه چې ټول وخت يې د کاليو په ګنډلو تيريده. مګر د خداې روح هغه پوه کړه چې خداى بايد د هغې په ژوند کښې لومړى مقام ولري. هغې کليسا ته د تګ دپاره وخت وټاکه او خپل کار ته يې هم په ښه توګه دوام ورکړ.

ډير کارونه دي چې هغه بې ضرره دي خو کولى شي چې زمونږ دومره وخت ونيسي چې د خداى دپاره وخت ونلرو. لوبې کول، تفريح کول، کتاب لوستل او په زرګونو نور کارونه بايد زمونږ په ژوند کښې لومړى مقام ونلري، ځکه په هغه صورت کښې به مونږ د دې څخه لېرې وساتي چې د خداى سره صحيح اړيکې ولرو.

"نو اى ورونو، د دغو الهي رحمتونو په نظر کښې نيولوسره ستاسو څخه غواړم چې خپل ځانونه د يوې ژوندۍ او پاکې قربانۍ په توګه چې خداى يې خوښوي هغه ته هديه کړئ. ستاسو روحاني او معقول عبادت همدا دى. خپل ځانونه د دې دنيا سره يوشان کوئ مه. بلکه د خيالونو په نوي کولو سره دې ستاسو په وجود کښې بدلون راشي ترڅو وکولى شئ چې د خداى اراده معلومه کړئ او هغه څه چې ګټور، غوره او کامل دي هغه وپيژنئ" (روميان ۱۲: ۱ _ ۲).

که چیرې ټول شیان هغه ته وړاندې کړو، کولی شو چې د هغه اراده معلومه کړو. یوازې هغه ته د خپلو ځانونو د ورسپارلو په وسیله مونږ کولی شو چې هغه څه چې بې ګټې دي او هغه څه چې ګټور او غوره دي د هغو ترمنځ فرق قایل شو. په دې اساس زمونږ کار دا دی چې له هرڅه نه مخکښې د خدای سره د خپلو اړیکو په اړوند فکر وکړو او له هغې وروسته به هر څه خپل رښتیني ځای ته راشي.

"په پای کښې ای ورونو، د هغه څه په باره کښې فکر وکړئ چې هغه نیک، اصیل، صحیح، پاک، زړه وړونکي، د قدر وړ او هغه څه چې ډیر ښه او د ستاینې وړ وي" (فیلیپیان ۴: ۸).

## هغه څه چې تاسو یې باید سرته ورسوئ

۳_ لاندې جملې پوره کړئ:

الف) مونږ باید همیشه ځښتن ته په خپل ژوندون کښې.............................. مقام ورکړو.

ب) د دې دپاره چې وکولی شو ځښتن ته په ښه شان عبادت وکړو، باید درې مهم روحاني خصوصیات ولرو چې هغه عبارت دي له.............................................

۴_ د لاندینیو کارونو څخه کوم یوکولی شي چې په خپل ټول وجود سره د خدای د عبادت کولو خنډ وګرځي:
الف) د ښو کتابونو لوستل
ب) د خط لیکل
ت) لوبې کول
ث) کار کول
ج) مسافري
د) ماهیګیري
۵- پولوس ولې په فیلیپیان ۴: ۸ کښې وایي چې د ښو شیانو په باره کښې فکر وکړئ.

## د عبادت ظاهري بیان

مونږ دا وویل، هغه څه چې د خدای د عبادت دپاره لاژم دي، هغه د رښتیني او صادق زړه درلودل دي چې د صحیح عملونو سبب ګرځي، ځکه که چیرې مونږ د خدای او خپل ورور سره مینه ولرو، نو مونږ به هغوی په خپلو عملونو باندې خفه نکړو بلکه د هغوی د خوشحالۍ سبب به شو. خو که چیرې هغه روحاني خاصیتونه زمونږ په زړونو کښې موجود وي، نو څنګه باید خپل عبادت څرګند کړو. آیا مونږ هم باید د یهودیانو په شان چې په زړه لوظنامه کښې یې یادونه شوې ده خدای ته قرباني وړاندې کړو؟ آیا د رسولانو او نورو پاکانو د مجسمو په مخکښې سجده وکړو؟ آیا دا صحیح خبره ده چې په کلیسا

کېږي د خدای دپاره خپل لاسونه وپړکوو؟ هره ټولنه ځانته خاص کلتور لري او هغه زمونږ د عبادت په طریقو باندې تاثیر اچوي. د عبادت په اړه زمونږ په ټولنه کېږي د ځینو منل شویو اصولو څخه ځیني مراسم او دودونه شته چې زمونږ د ژوند اوکلیسا یوه برخه ګرځیدلې ده. که چیرې دا مراسم او دودونه د خدای د کلام د اصولو په خلاف نه وي، کولی شو چې د هغو څخه ګټه واخلو او هغه کولی شي چې زمونږ عبادت نور هم غني کړي. د خدای په عبادت کېږي یو بل عامل د خلکو ځانګړتیاوې دي. د مثال په ډول، فرض کړئ تاسو خپل یو دوست ته یو قیمتي سوغات ورکړ، نو هغه به په ټوپونو شي. مګر په عین حال کېږي، ستاسو بل ملګرې به یوازې په موسکا شي او ستاسو څخه به مننه وکړي. د هغوی څخه ولې دوه قسمه غبرګون وینو؟ دا ځکه چې هغوی دواړه مختلفې ځانګړتیاوې لري. د زړې لوظنامې په زمانه کېږي به یهودیانو د قربانیو په وړاندې کولو سره د خدای عبادت کاوه. خو اوس دې ته کومه اړتیا نشته.. ځکه چې زړه لوظنامه د راتلونکې وخت یو تصویر و. په دې خاطر چې عیسی مسیح د انسانانو د ګناهونو دپاره قرباني شو او نور نوې قربانۍ ته کومه اړتیا نشته. په اولني لوظ کېږي مذهبي رسم او رواج او دنیایي عبادتخانه وه، مګر کله چې عیسی د لوی کاهن او د آسماني برکتونو راوړونکی راغی.....له همدې کبله هغه د نوي لوظ یوه وسیله ده ترڅو هغه خلک چې د خدای له خوا رابلل شوي دي هغه ابدي برکتونه

ترلاسه کړي چې خدای د هغو وعده کړې ده (عبرانیان **۹**: ۱، ۱۱ او **۱۵**).

مقدس کلام په دې باندې ټینګار کوي چې یوازې خدای د عبادت لایق دی. ګران یوحنا غوښتل چې د آسماني موجوداتو عبادت وکړي، مګر خدای هغه د دې کار څخه منع کړ. "داسې کار مه کوه، زه ستا او ستا د ورونو په شان یو خدمتګار یم چې په عیسی مسیح باندې شاهدي ورکوي، د خدای عبادت وکړه" (مکاشفه **۱۹**: ۱۰).

عیسی مسیح په صلیب باندې د خپل مرګ په وسیله مونږ ته دا امتیاز راوبخښه چې د یو کاهن په توګه د خدای حضور ته ورشو او د هغه عبادت وکړو.

"...هغه زمونږ سره مینه کوي او په خپله وینه یې مونږ د ګناهونو څخه خلاص کړو او مونږ یې پادشاهۍ ته ورسولو ترڅو د کاهنانو په توګه د خدای یعنې د هغه د پلار خدمت وکړو. د هغه قدرت او جلال دې تل ترتله وي. آمین" (مکاشفه ۱: **۵_۶**).

مونږ آزاد یو چې د زړه له کومې او مختلفو لارو څخه د ښتن عبادت وکړو. په تیرو درسونو کښې مو ولوستل چې مونږکولی شو چې د دعا، سرود او موسیقۍ، په انتظار ایستلو او همدارنګه په خپلو عملونو سره د هغه عبادت وکړو. آیا نورې لارې هم شته چې د هغو په وسیله خدای ته خپله مینه

ښکاره کړو؟ هو، د یوازیتوب په وخت کښې او یا د نورو ایماندارانو سره په شریک کیدلو سره کولی شو چې د هغه عبادت وکړو. د خدای روح به زمونږ سره مرسته وکړي چې د نورو ایماندارانو سره یوځای په خوشحالۍ او د لاسونو په پړکولو سره د هغه عبادت وکړو. لاسونه پړکول د عبادت له طریقو څخه یوه طریقه ده (زبور ۴۷: ۱). مقدس کلام مونږ ته وایي چې د عبادت کولو په وخت کښې خپل لاسونه پورته کړو.

"ای د خدای بنده ګانو او هغه خلکو چې د شپې د هغه په کور کښې خدمت کوئ، راشئ او د څښتن ستاینه وکړئ. خپل لاسونه د خدای په کور کښې د دعا دپاره پورته کړئ" (زبور ۱۳۴: ۱_ ۲). مقدس کلام وایي چې داود اورشلیم ته د لوظ د صندوق د راوړلو په وخت کښې په خپل ټول قوت سره د څښتن په حضور کښې ګډا کوله (دوهم سموئیل ۲: ۱۴). بیشکه هغه دومره خوشحاله و چې کولای یې نشول په آرامۍ سره د څښتن عبادت وکړي. د خدای روح زمونږ سره مرسته کوي چې هغه ته جلال ورکړو. روح القدس زمونږ مختلف شخصیتونه پیژني او د هغو څخه د خدای په عبادت کښې ګټه اخلي. نو له دې کبله دا ضروري نه ده چې د خدای د عبادت دپاره کومه بله ځانګړتیا ولرو. دا باید په یاد ولرو چې په دې لویه دنیا کښې زمونږ په شان څوک نشته او کیدای شي چې نور خلک د روح القدس په مقابل کښې داسې غبرګون وښایي چې زمونږ سره فرق ولري. مونږ هر یو د یو فرد پورې تړل شوي یو، د یو خاص

شخصیت او خاصو احساساتو پورې. مګر د خدای روح د دې ټولو عواملو څخه د خدای په عبادت کښې کار اخلي. یو نفر کولی شي چې د خاموشۍ په حال کښې په ژوره توګه د څښتن عبادت وکړي. یوې ښځې په ګډا کولو سره د څښتن عبادت کاوه. هغه د یوې داسې کورنۍ څخه وه چې په هغې کښې اوه ماشومان وو چې هغه ټول ګوډ پیدا شوي وو. هو، هر څوک کولی شي څنګه چې وغواړي هماغسې د خدای عبادت وکړي خو دا عبادت باید صادقانه او د زړه له کومي څخه وي. که چیرې رومیان ۱۲: ۱۰ په خپل ژوند کښې عملي کړو، نو بیشکه مونږ به د خدای عبادت په ښکلې طریقې کړی وي.

"په ډیر جوش سره یو د بله سره د مسیحي ورونو په توګه مینه وکړئ او هر یو باید د خپل ځانه څخه زیات د بل احترام وکړي."

مونږ باید د نورو شخصیت، د هغوی کلتور او هغو اړیکو ته احترام وکړو چې د خدای سره یې لري.

## هغه څه چې تاسو یې باید سرته ورسوئ

۲ـ صحیح عبارتونه په ګوته کړئ:

الف) په زړه لوظنامه کښې قرباني کول د هغه څه سمبول يا تصوير و چې په راتلونکي کښې به پيښيدل.

ب) مجسمې زمونږ سره دا مرسته کوي چې په ډيره ښه توګه د څښتن عبادت وکړو.

ت) ګران يوحنا ته وويل شول چې د خدای د مخلوقاتو عبادت ونکړي بلکه د څښتن عبادت دې وکړي.

ث) مونږ ټول کولی شو چې د څښتن عبادت په آزادانه توګه وکړو.

۷_ لاندينی عبارت د ورکړل شويو ځوابونو څخه د کوم يو ځواب په وسيله پوره کيږي:

په مقدس کتاب کښې لولو چې خلکو به د خدای عبادت .......... سره کاوه.

الف) د لاسونو په پورته کولو

ب) ګډا کولو

ت) په داسې لوړ آواز سره په چيغې وهلو سره څومره يې چې وس رسيده.

ث) د لاسونو په پړکولو

۸_ لاندې جمله مکمله کړئ:

زمونږ عبادت به د نورو د تيندک خوړلو سبب نشي که چيرې مونږ له هغو سره.........ولرو او هغو ته .......وکړو.

۹_ آیا د عبادت دپاره نورې طریقې پیژنئ؟ د هغوی لست جوړ کړئ.

## خپل ځوابونه مقایسه کړئ

۱_ ت

۲_ الف) صحیح

ب) غلط

ت) صحیح

ث) صحیح

۹_ ستاسو ځواب

۵_ ستاسو ځواب، مګر مثبت خیال یو داسې عامل دی چې مونږ په ښه توګه د خدای حضور ته رسوي.

۲_ زه خپله

۷_ الف، ب، ث او ت

۳_ الف) لومړنی

ب: پاکوالی، صفاوالی او هوښیارتیا

۸_ مینه ؛ درناوی

۴_ ټول ښه کارونه دي، مګر کیدای شي چې د خدای سره زمونږ په اړیکو کښې خنډ راپیدا کړي.

اووم لوست

# د عبادت مشق کول

یوه ډله د سیاحت دپاره یوې کارخانې ته تللې وو او د کارخانې د مختلفو برخو په باره کښې یې له اړونده لارښو-ونکي څخه پوښتنې کولې. وروسته له دې چې لارښوونکي د هرې برخې د کارونو په باره کښې پوره څرګندونې وکړې، د کتونکو له جملې څخه یو تن د هغه څخه پوښتنه وکړه:آیا تاسو خپله هم په دې کارخانه کښې په عملي توګه کار کړی دی؟ لارښوونکي په صادقانه توګه وویل،"نه، زه یوازې دومره پوهیږم چې کارونه څنګه سرته رسیږي، مګر ما خپله هیڅکله نه دي کړي." د هغه څه ترمنځ چې مونږ ورباندې پوهیږو او هغه څه چې په عملي توګه یې سرته رسوو، کله کله زیات فرق وي او مهارت د عملي کار په وسیله ترلاسه کیدای شي. هیڅوک نشي کولی چې رباب غږول زده کړي ترڅو په هغه باندې عملي کار ونکړي. په همدې ډول عبادت باید د عبادت کولو په وسیله زده کړو. د دې درس مقصد دا ندی چې تاسو ته ووایي چې په څه ډول د خدای عبادت وکړئ، بلکه د عبادت په کار کښې د نورو د تجربو څخه ګټه اخیستل دي. د ایماندارانو تجربې چې

هر یو په خپل وخت کښې په عملي توګه د ښتن عبادت کړی دی یادې ساتئ.         عمل + پوهه = مهارت

## هغه څه چې په دې لوست کښې به یې ولولئ

- په فردي توګه عبادت کول
- په جمعي توګه عبادت کول

## دا لوست به تاسو سره مرسته وکړي ترڅو...

- په فردي عبادتونو کښې د مقدس کلام د اصولو او طریقو عملي کول.
- په عبادت کښې د یوې ډلې د غړي په توګه د مقدس کلام د اصولو او طریقو عملي کول.

## په فردي توګه عبادت کول

په مقدس کلام کښې څه وخت خلکو ښتن ته درسیدلو کوښښ کاوه؟ دانیال به هره ورځ درې ځلې دعا کوله. داود شپه او ورځ د ښتن په لټه کښې و. د اول تواریخ په ۱۲: ۱۱ کښې لولو چې، "همیشه د هغه د مخ د لیدلو په لټه کښې اوسئ." زمونږ عبادت به هغه وخت دوامدار وي چې مونږ خپل ځانونه په پوره ډول خدای ته وسپارو. هره ورځ باید یو ځانګړی وخت دخدای سره د مشارکت په خاطر بېل کړو. کله کله خلک

په خپلو ستونزو کښې داسې راګير شي چې په ډيرې سختۍ سره کولی شي چې د دعا دپاره وخت پيدا کړي، خو بيا هم دا کارکوي. د کور يوه ښځه د خپلې کورنۍ د غړو څخه يو ساعت مخکښې راپاځيږي او ټول کارونه سرته رسوي ترڅو دعا وکړي. بل نفر د آرام کولو په وخت کښې د نوي کار د شروع کولو څخه مخکښې پارک ته ځي ترڅو د خدای سره مشارکت وکړي. په هر ډول شرايطو کښې د ځښتن په مرسته کولی شو د خدای سره د مشارکت دپاره وخت پيدا کړو. د دعا او عبادت په وخت کښې کولی شو چې ځښتن نور هم وپيژنو.

يو ځل زما دوست ماته د خدای سره د مشارکت کولو په خاطر يو پروګرام راکړ چې زما سره يې زياته مرسته وکړه. مګر وروسته مې د خپلو شخصي اړتياوو په پام کښې نيولو سره په هغه کښې لږ څه بدلون راوست چې د لوست په پای کښې به يې ولولئ. زه هيله لرم چې هغه به تاسو سره مرسته وکړي.

د يوازيتوب په حال کښې دخدای سره ستاسو مشارکت به تاسو ته برکت درکړي. دا کيدای شي چې د دعا په وخت کښې تاسو په خپلو الفاظو يا د روح القدس په الفاظو سره د ځښتن دپاره سندره ووايئ. په همدې ډول کولی شئ چې د خدای په حضور کښې وژاړئ اويا د خوشحالۍ خندا وکړئ، دا کيدای شي چې د هغه دپاره لاسونه وپړکوئ يا خپل لاسونه د شکرګذارۍ د نښې په توګه پورته کړئ. د دعا کولو په وخت کښې کولی شئ چې په ګونډو شئ، ودريږئ، کښينئ يا قدم

ووهئ. مونږ نشو کولی چې تاسو ته د دعا کولو دپاره کومه ځانګړې نمونه وړاندې کړو ځکه چې د خدای روح د باد سره تشبیه شوی دی او هغه کولی شي چې د باد په شان هرې خواته حرکت وکړي. روح القدس زمونږ د تیر شوي وخت، اوسني وخت او راتلونکې څخه خبر دی او زمونږ په اړتیاوو باندې ښه پوهیږي. که چیرې د یادداشت کتابچه ولرئ چې خپل خیالونه په هغې کښې د دعا کولو په وخت کښې او یا هغه څه چې د خدای روح یې تاسو ته وایي ولیکئ، نو دا به ستاسو دپاره ګټور وي. ځینې خلک د خدای د کلام د لوستلو په وخت کښې د آیاتونو لاندې خط وباسي یا ځینې شیان یادداشت کوي. کله کله د دعا کولو په وخت کښې د خلکو په باره کښې فکر کوو او د هغوی دپاره دعا کوو. د دې شیانو لیکل به زمونږ سره مرسته وکړي ترڅو د وخت په تیریدلو سره چې کله هغو شیانو ته وګورو نو مونږ به د ښتن څخه زمونږ د دعاګانو د قبلولو په خاطر شکر ادا کړو. ستاسو د یادداشت کتابچې به ستاسو خپل ورځینې روحاني یادداشتونه وي. ستاسو څخه غواړم چې د خدای سره د مشارکت کولو پروګرام د پوره یوې هفتې دپاره سرته ورسوئ او تاسو به ووینئ چې د وخت په تیریدو سره به د خدای سره مشارکت ستاسو د ژوند یوه برخه وګرځي، ځکه چې عبادت زمونږ د ژوند یوه برخه ده.

## د خدای سره د مشارکت درلودلو کړنلاره

د خدای سره د مشارکت دپاره باید وخت په نظر کښې ونیسو او د ژوندي خدای سره ځانله خبرې وکړو او د هغه آواز واورو. "نژدې او ژوندی مشارکت یعنې دا چې خدای ته ورنژدې شئ چې هغه هم تاسو ته درنژدې شي" (یعقوب ۴: ۸).

### مهال ویش

الف) د پنځو دقیقو دپاره تیاری نیول: (**۵** دقیقې)

۱) د خپل ځان ځخه پوښتنه وکړئ آیا د خدای حضور ته په پاک زړه او پاک وجدان سره ورځم (زبور ۲۴: ۳_ ۲ او ۱۳۹: ۲۳_ ۲۴ او **۵۱**).

۲) تابعداري: ښتن ته ووایئ هر څه چې هغه ووایي، تاسو به د هغه تابعداري کوئ (یوحنا ۱۴: ۲۱).

۳) د خدای د روح لارښودنه وغواړئ (یوحنا ۱۴: ۲۲ او رومیان ۸: ۲۶).

ب) د لسو دقیقو دپاره شکرګذاري کول او عبادت کول، (۱۰ دقیقې). عبادت کول ستاسو دعا ده. په روح سره د ښتن عبادت وکړئ. د هغه په باره کښې فکر وکړئ او د هغه د وجود په خاطر د هغه ستاینه وکړئ.

که چېرې ستاسو دپاره سخته وي چې يوځه ووايئ نو د عبادت د مزاميرو څخه يو زبور د ښتن دپاره په لوړ آواز سره ووايئ.

ت) د پنځه ويشت دقيقو دپاره د کلام لوستل، (**۲۵** دقيقې). د خدای د کلام څخه دوه يا درې لوستونه ځو ځو وارې ولولئ او د مهمو آياتونو لاندې کرښه وباسئ. د هغو په باره کښې فکر وکړئ چې څنګه کولی شئ عمل ورباندې وکړئ. وروسته بيا د اياتونو په باره کښې خپل نظر وليکئ او د آياتونو څخه يو آيت په ياده ياد کړئ.

ث) د شل دقيقو دپاره دعا کول،(۲۰ دقيقې). دې ته تيار اوسئ چې د خدای آواز واورئ. د خدای څخه وغواړئ چې ستاسو فکرونه، هيلې او خيالونه کنترول کړي (اشعياه **۵۵**: ۸). په دښمن يعنې شيطان باندې امر وکړئ چې خاموش وي (يعقوب **۴**: ۷). د خدای د روح څخه وغواړئ چې تاسو پوره کنترول کړي (روميان ۸: ۲۲). په خپل ايمان سره د هغو برکتونو په خاطر چې تاسو موندلي دي، د خدای شکر ادا کړئ.

ج) يو څه وخت په خاموشۍ کښې تير کړئ، خپل خيالونه وليکئ او هغه د خدای د کلام سره برابر کړئ. د هغو خلکو او هغو مشکلاتو دپاره چې

ستاسو ذهن ته راځي دعا وکړئ. همدارنګه خپل شخصي اړتیاوې ښبنتن ته ووایئ.

ح) شکرګذاري: خپله دعا خپل آسماني پلار ته د هغه د نیکۍ او ستاسو د سوالونو د قبلولو په خاطر پای ته ورسوئ.

## هغه څه چې تاسو يې بايد سرته ورسوئ

۱_ صحيح عبارت په ګوته کړئ.

الف) مونږ بايد يوازې په يو سپيڅلي ځاى کښې د خداى عبادت وکړو.

ب) مونږ هغه وخت کولی شو د عبادت په باره کښې ډيرڅه زده کړو چې په عملي توګه د خداى عبادت وکړو.

ت) خداى د ټولو ايماندارانو سره د مشارکت غوښتونکى دى.

ث) خداى ته په عبادت کولو کښې فکر کول او خاموشي مهم نه دي.

۲_ لاندينيو سوالونو ته د هو يا نه په ويلو سره ځواب ورکړئ.

الف) زه هره ورځ خداى سره د مشارکت دپاره ټاکلى وخت لرم.

ب) زه په دعا کښې د خداى عبادت ته خاص وخت ورکوم.

ت) حتى څه وخت که زما حالت ښه هم نه وي، د خداى شکر ادا کوم.

ث) زه هره ورځ د خداى کلام لولم.

ج) زه خداى ته وخت ورکوم چې خبرې وکړم.

ډ) د عبادت په وخت کښې زه خپل ځان او نور خلک هیروم او یوازې د خدای په باره کښې فکر کوم.
ذ) زه هره ورځ په روح کښې دعا کوم.
که چیرې په دې باره کښې ستاسو ځواب "نه" وي،نو د خدای څخه وغواړئ چې مرسته درسره وکړي.

## په جمعي توګه عبادت کول

دوه زره کاله مخکښې پولوس رسول د انجیل د تبلیغ له امله په زندان کښې واچول شو. البته دا یوه داسې تجربه وه چې هغه یې د بل هر وخت څخه زیات په دې باندې پوه کړ چې د ایماندارانو دپاره دا مهمه ده چې د عبادت دپاره سره راغونډ شي. "خدای تاسې ټول سره په یو بدن کښې رابللي یاست" (کولسیان ۳: ۱۵).

"د کلیسا په غونډو کښې د ورونو سره په راټولیدلو کښې باید بې پروایي ونکړو لکه څنګه چې ځینې خلک داسې عادت لري.بلکه یو او بل سره تشویق کړو، ځکه چې تاسو پوهیږئ چې د خدای ورځ ډیر ژر راتلونکې ده" (عبرانیان ۱۰: ۲۵).

دا د اوسنیو ایماندارانو دپاره داسې مهمه ده چې سره راغونډ شي لکه څنګه چې د پخوانیو ایماندارانو دپاره مهمه وه. زمونږ د راغونډیدلو یو دلیل دا دی چې څښتن دا وعده کړې ده په هغه ځای کښې چې دوه یا درې تنه د هغه په نوم سره

راټول شي، هغه په هغه ځای کښې حاضر وي (متي ۱۸: ۲۰). زمونږ په یووالي کښې یو روحاني قوت موجود دی. په جامعه ۴: ۱۲ کښې راغلي دي: "دوه نفره کولی شي چې په یو یرغل کښې یو د بله سره مقاومت وکړي چې یو نفر به په کښې ماتې خوري او هغه درې تاره رسۍ به ژر ونه شلیږي." نو په روحاني یووالي کښې همداسې قوت شته. د پنتیکاست په ورځ ایمانداران په یوځای کښې سره راغونډ شوي وو چې روح القدس نازل شو (اعمال ۲: ۱). او خدای د هغوی د یووالي قدرداني وکړه. مونږ په یوه ګناهکاره نړۍ کښې ژوند کوو او د یواو بل مرستې ته اړتیا لرو. کیدای شي چې یوه ورځ په ډیر مشکل سره کلیسا ته راشو او نااميده او ستړي به یو، خو کله چې نور ایمانداران د خدای عبادت کوي او د خدای د عملونو په باره کښې خبرې کوي، نو مونږ هم برکت مومو او زمونږ اړتیاوې پوره کیږي. ښښتن د هغوی له لارې زمونږ سره خبرې کوي او زمونږ سره مرسته کوي، کیدای شي چې یوه ورځ زه د نورو ایماندارانو خدمت وکړم. په همدې دلیل د خدای کلام مونږ یو د بله سره د مشارکت دپاره تشویقوي. هر وخت چې مونږ سره راغونډیږو، باید د خدای عبادت ته وخت ورکړو او ددې په ځای چې خپل خیالونه د خپل ځان خواته راوګرځوو، هغه باید د خدای خواته واړوو تر څو په دې پوه شو چې د هغه مینه زمونږ د ټولو اړتیاوو پوره کوونکې ده.

خدای ته د عبادت کولو په وخت کښې باید روح القدس ته اجازه ورکړو چې مونږ ته لارښودنه وکړي. هغه د مختلفو طریقو څخه کار اخلي. دا باید په پام کښې وساتو چې د غونډې په وخت کښې باید ټول وخت خپل ځان ته ورنکړو، بلکه نورو ته هم باید اجازه ورکړو چې خپلې تجربې او برکتونه بیان کړي. کله کله د عبادت په غونډو کښې د ایماندارانو څخه هر یو ایماندار د عبادت یو آیت په لوړ آواز سره لولي. خو دا ټکی باید په پام کښې ونیسو چې څوک باید د کوم کار د سرته رسولو دپاره مجبور نکړو، بلکه هر نفر باید خپل ځان پوره آزاد احساس کړي. کله کله خلک د عبادت په وخت کښې په لنډو جملو کښې د خدای عبادت کوي. د مثال په ډول، "زه ستا د وفادارۍ او بې حده مینې دپاره شکر ادا کوم." او په دې ډول هر نفر کولی شي چې په دې عبادت کښې برخه واخلي. نوي ایمانداران هم کولی شي چې بې له کوم شرم څخه په دې عبادت کښې ګدون وکړي. وروسته له دې چې د خدای عبادت مو وکړ، بیا کولی شو چې خپلې ستونزې خدای ته ووایو. د غونډې مشر باید د روح په لارښودنه دا معلومه کړي چې په عبادت کښې باید نور څه وشي. د خدای د عبادت دپاره یوه بله ښکلې طریقه دا ده چې ټول سره یوځای دعا وکړو. کله چې ټول ایمانداران په جمعې سره د خدای عبادت کوي او د هغوی د شکرګذارۍ آواز آسمان ته پورته کیږي، خدای څومره خوشحالیږي. یوحنا رسول وایي: "د پاکانو دعاګانې د طلایي جامونو په شان دي چې له خوشبویۍ څخه ډک وي" (مکاشفه **۵: ۸**).

هغه دعاګانې چې د روح القدس سره يوځای ويل کيږي، هغه د روح په ژبو باندې د خدای عبادت کول دي. څه وخت چې ټول په روح سره سندرې وايي، نو مونږ ته به آسمان را ياد کړي، يعنې هغه ځای چې شپه او ورځ به په کښې د خدای عبادت کوو. کله کله داسې هم کيدای شي چې روح القدس مونږ خاموشۍ ته راوبولي، نو بايد د خاموشۍ څخه ويره ونکړو ځکه خدای غواړي چې زمونږ سره خبرې وکړي او کله کله دغه خاموشي د نبوت، پيغام يا ژبو او ترجمې په وسيله ماتيږي (اول قرنتيان ۱۲: ۱۰). نو که چيرې د عبادت په وخت کښې په ناڅاپي ډول خاموشي رامنځ ته شي، په هغې باندې مه حيرانيږئ او دا ياد ساتئ چې خاموشي هم د خدای عبادت يوه برخه ده. که چيرې زمونږ عبادت د خدای د روح تر لارښودنې وي او په اخلاص او ساده ګۍ سره وي، نو روح القدس کولی شي چې نور خلک هم لمس کړي ترڅو هغوی هم خلاصون ومومي، د روح القدس څخه ډک شي او ښښتن جلال ومومي.



## هغه څه چې تاسو يې بايد سرته ورسوئ

۳ـ لاندينی عبارت د ورکړل شويو ځوابونو څخه د کوم ځواب په وسيله پوره کيږي؟

د خدای عبادت د يو او بل سره مهم دي ځکه چې:

الف) عیسی دا وعده کړې ده چې په هرځای کښې چې دوه یا درې نفره د هغه په نوم سره راغونډ شي، هغه به هلته حاضر وي.

ب) کله چې پریشانه او نا آرامه یو، کولی شي چې زمونږ روحیه بدله کړي.

ت) یوازینی لاره د خدای عبادت کول دي.

۴_ لاندینی جملې پوره کړئ:

الف) مقدس کلام وایي چې د کلیسا په غونډو کښې ......... بې پروایي ونکړو.

ب) مونږ دوه ډوله دعا ګانو ته اړتیا لرو: فردي دعا او .......... دعا.

ت) که چیرې زمونږ په عبادت کښې جوش وي او ............... ترسره شي، نو خلک به خدای ته رجوع وکړي.

۵_ په جمعې سره د خدای د عبادت د دریو طریقو نومونه واخلئ.

## خپل ځوابونه مقایسه کړئ

۱_ الف) غلط

ب) صحیح

ت) صحیح

ث) غلط

۴_ الف) د ورونو د راټولیدو په اړوند

ب) جمعي

ت) د خدای د روح تر کنترول لاندې

۲_ ستاسو ځواب

**۵_** ستاسو ځواب، کیدای شي چې تاسو د مقدس کلام لوستلو، سندرو ویلو، په یوځای دعا کولو او یا په روح سره عبادت کولو ته اشاره وکړئ.

۳_ الف او ب

# عبادت د اوس او د تل لپاره

دوه ښځې د انجیل د بشارت په خاطر د یوې ښځې کور ته تللې وې، دې ښځو په هغه کور کښې د نوموړې ښځې سره یوځای د خلاصون دپاره دعا کوله، کله چې هغوی راووتلې، نو په کوم ځای کښې چې هغوی خپل آسونه ودرولي وو، آسونه هلته نه وو. هغوی یوناڅاپه ولیدل چې یو څو نفره ددوی خواته راروان دي. د یو نفر سره وسله وه او نور د ځمکې څخه د تیږو په راټولولو باندې بوخت وو. بیا هغوی په ډیر قهر سره چیغې وهلې. دواړه بشارت ورکوونکې ښځې پوه شوې چې باید پیاده وتښتي. مګر د دې په ځای چې هغوی وویریږي، شکرګذاري یې وکړه. د هغو څخه یوې ښځې وویل، "د خدای شکر دی، ځکه چې خدای مونږ د دې وړ وګڼلو چې د عیسی مسیح د نوم په خاطر زحمت ووینو" (اعمال ۵: ۴۱). هغوی په زړورتیا سره غونډۍ ته وختلې، دا په داسې حال کښې وو چې ویشتل شوې مرمۍ به یې له دې چې هغوی ته کوم زیان ورسوي، د دوی له خوا څخه تیریدلې. هغه خلک نور د هغوی پسې لاړ نشول او هغه دوه ښځې بې له کوم زیان څخه وتښتیدلې. د خدای عبادت د

هغوی او هغو سړیو ترمنځ یو نه لیدونکی خنډ و. له دې ښځو څخه یوه یې زما مور وه چې تر نن ورځې پورې د عبادت د معجزه آورې آغېزې په باره کښې شاهدي ورکوي.

## هغه څه چې په دې لوست کښې به یې ولولئ

❖ د عبادت اغیزې
❖ د عبادت پراختیا

## دا لوست به تاسو سره مرسته وکړي ترڅو...

- د هغه چا دپاره برکت وغواړئ کوم چې د څښتن عبادت کوي.
- د څښتن سره نه ماتیدونکي ابدي شراکت ته نظر وکړئ.

## د عبادت اغیزې

د هغې پیښې په باره کښې چې د دې لوست په پیل کښې بیان شوه، د خدای په کلام کښې زیات مثالونه پیداکیږي. کله کله شکرګذاري او عبادت د ایماندارانو د ساتنې او خلاصون سبب شوی دی.

همدارنګه عبادت کولی شي چې قوت راپیداکړي. په اشعیاه ۴۰: ۳۱ کښې لولو چې، "هغه څوک چې څښتن ته انتظار کوي نوی قوت به ومومي."

مسیحي کلیسا د لومړنیو شهیدانو د ځوریدنې او مرګ سره د مخامخ کیدو په وسیله قوت موندلو، ځکه چې هغوی د خدای ستاینه او عبادت کاوه. تاریخ لیکونکي د دې بیان کوي چې څنګه به هغوی د روم د کلثیوم په ستدیوم کښې د زمریانو مخې ته غورزول کیدل او تماشه کوونکي په دې نه پوهیدل چې په داسې حال کښې چې دې مسیحیانو چې د مرګ سره مخامخ وو، سندرې ویلې او د خدای عبادت یې کاوه. مسیحیانو دغه قدرت په دې باندې ونه موند چې هغوی خپلو ځانونو یا سختو شرایطو ته کتل بلکه په خدای، د هغه په وفادارۍ او مینه باندې په تکیه کولو باندې. هغوی پوهیدل چې ډیر ژر به هغه مخامخ ووینی. "بختور دی هغه قوم چې د خوشحالۍ آواز اوري، ستا د مخ په رڼا کښې ای څښتنه ژوند کوي، ستا په نوم به خوشحاله شي. ټوله ورځ به ستا په خاطر خوشحالي کوي. ته مونږ ته لویې کامیابۍ راکوې، تا مونږ په خپله مینه کښې بریالي کړي یو" (زبور ۸۹: ۱۵_ ۱۷).

لکه څنګه چې مو په تیر درس کښې ولوستل، مونږ د خدای عبادت کوو ځکه چې هغه یې لایق دی. او همدا یو دلیل هغه ته د عبادت کولو دپاره کافي دی. لیکن خدای ډیر بخښونکی دی او د هغو خلکو سره یې چې د هغه عبادت کوي د برکتونو وعده کړې ده. په تیرو لوستونو کښې مونږ د هغو روحاني برکتونو په باره کښې خبرې وکړې کوم چې خدای ته د عبادت کولو له لارې حاصلیږي. زمونږ دښمن یعنې شیطان به

دا هڅه وکړي چې په مونږ باندې ګوزار وکړي او مونږ نا امیده کړي. خو خدای وایي، "د خدای خوشحالي مونږ ته قوت راکوي"(نحمیاه ۸: ۱۰).

خو مونږ څنګه کولی شو چې دا خوشحالي لاسته راوړو؟ په اشعیاه ۱۲: ۳ کښې راغلي دي. "خوشحالي د خلاصون میوه ده." کله کله دښمن مونږ ته وایي چې مونږ خلاصون نه دې موندلی. که چیرې د هغه خبرو ته غوږ ونیسو، نا امیده او کمزوري کېږو، نښو کولی هغه قسم چې لاژمه ده دعا وکړو او حتی په خلاصون باندې به هم شک وکړو خو مونږ کولی شو چې د عبادت په وسیله خپله هغه خوشحالي بیرته لاسته راوړو کومه چې مو له لاسه ورکړې ده. او د خدای په مینه باندې ډاډه واوسو.. په نتیجه کښې به مونږ داسې قوت لاسته راوړو چې مونږ به وکولی شو د ډیرو ستونزو او مسئلو سره مخامخ شو. کله چې ایوب خپل زامن له لاسه ورکړل، هغه وویل، "څښتن راکړل او هغه راخڅه واخیستل او د څښتن نوم دې مبارک وي" (ایوب ۱: ۲۱).

په بل آیت کښې داسې وایي، "د دې ټولو پیښو سره سره، بیا هم ایوب ګناه ونکړه او خدای یې ملامته نکړ." هغه دومره د خدای د مینې څخه ډک و چې هغه په دې باندې ډاډه و چې هرڅه د خدای په کنترول کښې دي. د ایوب عبادت په خدای باندې د باور لرلو یو مثال و. که چیرې تاسو یوه کوزړۍ د اوبو څخه دومره ډکه کړئ، چې اوبه ورڅخه توی شي، نور نو په

هغې کښې ګرد او دوړې نشي ننوتلی. په همدې ډول که چیرې په خوشحالۍ سره د خدای عبادت ته دوام ورکړو، نو نور به دګناه او بدۍ دپاره ځای پاتې نشي. عیسی چې زمونږ دپاره یو مثال دی، د ایلعازر د راژوندي کولو څخه مخکښې وویل، "ای پلاره ستا شکر کوم چې زما خبره دې واوریده" (یوحنا ۱۱: ۴۱). او پس له هغې یې ایلعازر راژوندی کړ. په انجیل کښې د هغو ناروغانو په باره کښې چې د عبادت په وخت کښې ئې شفا موندلې ده د زیاتو مثالونو یادونه شوې ده (متي ۸: ۲ او مرقس ۷: ۵).

خو د آسماني او له محبت څخه د ډک پلار پیژندنه یو ډیر لوی برکت دی چې مونږ یې د هغه عبادت په وسیله ترلاسه کوو کوم چې په خوشحالۍسره کیږي. او د هغه د موجودیت نور هم زیات احساس کوو کله چې مونږ د هغه په حکم باندې عمل وکړو. اول یوحنا ۳: ۲۴ مونږ ته په ډاګه کوي چې "هر هغه څوک چې د هغه په حکمونو باندې عمل کوي، هغه په خدای کښې اوسیږي او خدای په هغه کښې." او هرڅومره چې هغه زیات وپیژنو، مونږ نور هم زیات کولی شو د هغه په بې فناه محبت ، د هغه په هغې واکمنۍ باندې چې په ټولو چارو باندې یې لري او خپله په هغه باندې باور وکړو. هغه زمونږ ټولو دپاره یو خاص پلان لري او څومره عجیبه ده چې مونږ په دې پوه شو چې زمونږ ژوند اوس او تر آبده پورې د هغه په لاسونو کښې دی. (زبور ۱۳۹: ۷_ ۱۸).

له مادي پلوه مرسته کول د عبادت د بیانولو د لارو څخه یوه بله لاره ده چې د هغو په باره کښې مو په تیرو لوستونو کښې خبرې وکړې. کله چې پولوس رسول د ایماندارانو د یوې ډلې څخه سوغاتونه ترلاسه کړل، هغوی ته یې وویل، "ستاسو اعانه ماته راورسیده او هغه نه یوازې دا چې زما دپاره بس وه بلکه زما د اړتیاو څخه زیاته هم وه. هغه اعانه چې تاسو د ایفرودتس په لاس راولیږله، زما اړتیا یې پوره کړه، هغه خدای ته د خوشبویه هدیو په شان وه، هغه یوه قرباني ده چې هغه ته د قبلیدلو او خوشحالۍ وړ ده. او زما خدای به په عیسی مسیح کښې ستاسو اړتیاوې د خپلې لویې شتمنۍ په وسیله پوره کړي" (فیلیپیان ۴: ۱۸_۱۹).

دا خبرې دې ته اشاره کوي چې پولوس د هغوی عمل د خدای د عبادت یوه ښه بولي. پولوس په دې باندې ایمان درلود چې خدای هغو خلکو ته برکت ورکوي کوم چې اعانه ورکوي. د پولوس خبرې مونږ ته د زړې لوظنامې وعده رایادوي.

"ما وازمایئ او بیا به وګورئ چې زه به د آسمان دروازې خلاصې کړم او په تاسو باندې به هر قسم ښه شیان پریمانه واوروم" (ملاکي ۳: ۱۰).

د رسولانو د اعمالو په اتم لوست کښې مونږ د حبشې د خزانه دار داستان لولو. هغه زیاته لاره وهلې وه چې په اورشلیم

کښې د خدای عبادت وکړي. هغه د اشعیاه د کتاب د **۵۳** فصل د لوستلو په حال کښې و. خدای د هغه صادق زړه ولید، نو فلیپس بشارت ورکوونکی یې ورولیږه چې د هغه سره مرسته وکړي فلیپس د هغه دګاډۍ خواته په منډه ورغی او د هغه حبشي څخه یې پوښتنه وکړه چې څه چې هغه ولوستل هغه وربانديې پوه شو که نه. هغه سړي ورته وویل، ترڅو چې څوک یې راته تشریح نکړي زه به څنګه وربانديې پوه شم؟ نو فلیپس د دې موقې څخه ګټه واخیستله او د هغه سره یې په عیسی مسیح کښې د خلاصون په باره کښې خبرې وکړې او د حبشې خزانه دار په عیسی مسیح بانديې ایمان راوړ او د تعمید غسل یې واخیست او په خوشحالۍ سره یې خپل سفر ته دوام ورکړ. د هغه روحاني اشتها پوره شوه ځکه چې هغه غوښتل چې د څښتن عبادت وکړي. هغه څه چې خدای ۱۹۰۰ کاله مخکښې د هغه خزانه دار دپاره وکړل، نن هم کولی شي چې زمونږ ټولو دپاره یې وکړي. مونږ د هغه عبادت کوو ځکه چې هغه په خپله وعده بانديې وفادار دی (پیدایښت **۲۴**: **۲۲**).

## هغه څه چې تاسو یې باید سرته ورسوئ

۱_ زبور **۸۹**: **۱۵**_ ۱۷ بیا ولولئ او لاندینی عبارت پوره کړئ:
د دې په ځای چې په تیاره کښې ژوند وکړو کولی شو چې ..........کې ژوند وکړو او همیشه ...............اوسو.

۲_ زبور ۱۳۸: ۲_۳ ولولئ او د خدای د عبادت د هغو څلورو دليلونو نومونه واخلئ کوم چې په دوهم آيت کښې يې يادونه شوې ده.
۳_ د هغو دوو برکتونو نومونه واخلئ چې د خدای د عبادت په نتيجه کښې حاصليږي او په زبور ۱۳۸: ۳ کښې يې يادونه شوې ده.
۴_ د خدای د عبادت د نورو پنځو برکتونو نومونه واخلئ.

## د عبادت پراختيا

مونږ د مسيحي عبادت د کتاب وروستۍ برخې ته رسيدلي يو. تر اوسه پورې مونږ د عبادت د دليلونو او په فردي او جمعي عبادت کښې د هغوڅخه د لاسته راغلو نتيجو په باره کښې خبرې وکړي او هغه شيان مو په عملي توګه تجربه کړل او هغه مو زده کړل. خو عبادت نور اړخونه هم لري چې مونږ په هغو باندې پوره نه پوهيږو.

د هغو څخه يو يې اورشليم ته د عيسی مسيح د ورننوتلو په قصه کښې وينو. کله چې هغه ښار ته ورداخل شو نو شاګردانو او دخلکو ګڼه ګوڼې چيغې وهلې: "مبارک دې وي هغه پادشاه کوم چې د څښتن په نوم راځي" (لوقا ۱۹: ۳۸). فريسيانو په دې کار باندې اعتراض وکړ مګر عيسیٰ ووېل،

"په دې پوه شئ چې که چيرې هغوی خاموش پاتې شي نو تيږې به چيغې ووهي" (لوقا ۱۹: ۴۰).

تيږې به څنګه چيغې ووهي؟ مونږ نه پوهيږو. خو په هر حال دا کار د خدای دپاره ممکن دی. که چيرې مونږ د ژونديو تيږو په توګه د ښتن عبادت ونکړو، نو خدای به د نورو تيږو څخه کار واخلي. عبادت کوم بې معنی عمل يا يوازې يوه طريقه نه ده بلکه په هغه کښې يوداسې قوت نغښتی دی چې ډير سخت خندونه له منځه وړي. عيسی وويل، "که چيرې دوی خاموش شي نو تيږې به چيغې ووهي." او دا د دې ښکارندوی دی چې عبادت څومره مهم دی. د خدای عبادت د هغه د وجود او د هغه دابدي پلان په خاطر زمونږ دپاره لوی افتخار دی. د عبادت په اړوند ډير رازونه شته او د هغو څخه يو يې هغه عبادت دی چې مونږ به يې په آسمان کښې کوو. واړه ماشومان زمونږ څخه په دې باره کښې عجيبه سوالونه کوي: "آيا مونږ به په هغه ځای کښې خپل نيکونه او نياګانې ووينو؟" هغوی غواړي چې د پيښو څخه په پوره ډول خبر شي. بايد په دې باندې اقرار وکړو چې په داسې حالاتو کښې مونږ نه پوهيږو چې هغوی ته څه ځواب ووايو. کلام د آسمان په باره کښې څه وايي؟

"تاسو مه پريشانه کيږئ او خفه کيږئ مه، په خدای باندې توکل وکړئ، په ما باندې هم ايمان ولرئ. زما د پلار په کور کښې ډير ځايونه شته. که داسې نه وای نو تاسو ته به مې نه ويل. زه ځم چې تاسو دپاره ځای تيار کړم" (يوحنا ۱۴: ۱_۲).

آسمان يو داسې ځای دی چې په خاصه توګه زمونږ دپاره تيار شوی دی. د دنيا ډير ښکلی ځای د هغه سره مقايسه کولی نشو ځکه چې هلته د ګناه دپاره ځای نشته. دا ګناه ده چې ټول شيان يې له منځه وړي دي، حتی د خدای خلقت يې له منځه وړی دی. خو په آسمان کښې به ټول شيان پاک او صفا وي. "هغه به د هغوی له سترګو څخه اوښکې پاکې کړي. هلته به نور د مرګ، غم، ژړا، درد او کړاو خبره نه وي" (مکاشفه ۲۱: ۴). مګر هلته به څه پيښ شي؟ د خوشحالۍ او عبادت آواز به واوريدل شي ځکه چې زمونږ بريالي کيدل پوره کيږي (اول قرنتيان ۱۵: ۵۴) او تل به د خدای سره اوسو (اول تسالونيکيان ۴: ۱۷).

اوس د دې توان نلرو چې په ټولو شيانو باندې پوه شو، خو مونږ په دې باندې ډاډه يو چې خدای زمونږ دپاره ښکلي او حيرانوونکي شيان لري چې له هغو څخه اکثره يې مونږ ته اوس نشي ويلای. مونږ د فاني انسانانو په توګه دا توان نلرو چې په ابدي شيانو باندې پوه شو.خو مونږ په دوه شيانو باندې يقين لرو. په مکاشفه ۲۲: ۳ او ۵ کښې له هغو دوو کارونو څخه خبريږو چې په آسمان کې صورت مومي.

"په هغه ځای کښې به د خدای تخت وي او بندګان به د هغه خدمت کوي. نور به شپه نه وي او هغوی به د څراغ يا د لمر رڼا ته اړتيا ونلري ځکه چې څښتن خدای به د هغوی دپاره رڼا وي او هغوی به تل ترتله پادشاهي کوي."

څه وخت چې ټول مخلوقات د هغه عبادت کوي، مونږ به هم د هغوی سره یوځای شو. کله چې عیسی ووینو او په دې پوه شو چې هغه زمونږ دپاره څومره زیاته بیه ادا کړې ده، نو هغه ته به عبادت وکړو. کله چې مونږ مخکښې وګورو او پوه شو چې آسمان تل ترتله زمونږ دی، نو زمونږ د شکرګذارۍ دپاره به نور حد وجود ونلري.

په آسمان کښې زمونږ اولنی کار د خدای عبادت دی. او بیا به تر آبده پورې زمونږ پادشاهي وي (مکاشفه ۵: ۲_ ۱۰). داسې پادشاهان چې باید په خپل کار کښې د مسئولیت احساس ولري، تنبلي پریږدي او د ښښتن خدمت وکړي چې ډیره لویه خوشحالي د خدای خدمت کول دي. پادشاهان دولتمند وي او هغوی کولی شي چې د هغې شتمنۍ څخه د خدای د خدمت دپاره کار واخلي. ښایي په هغه وخت کښې زمونږ کار دا وي چې کائنات او په هغې کښې د شیدو لاره د میلیونونو ستورو سره وڅیړو او د خلقت د راز څخه خبر شو. څوک کولی شي په دې پوه شي چې څه به وشي؟

"مونږ اوریدلي وو چې ټول مخلوقات چې په آسمان، ځمکه ، د ځمکې لاندې او هغه څه چې په دریاب کښې دي چیغې به وهي. ستاینه، عزت ، جلال او قدرت دې د هغه چا وي چې په تخت باندې کښیني او تر آبده پورې دي د هغه وي" (مکاشفه ۵: ۱۳). او مونږ هم وایو چې، "آمین".

## هغه څه چې تاسو یې باید سرته ورسوئ

۵ـ لاندینی عبارت پوره کړئ:
عیسی وعده کړې ده چې زمونږ دپاره به .......تیاروي.
۶ـ په آسمان کښې زمونږ دوه مهم کارونه عبارت دي له
الف) ساز غږول او آرام کول.
ب) عبادت او واکمني.
ت) د قربانګاه جوړول او د قربانۍ وړاندې کول.
۷ـ مونږ او ټولې فرښتې به په آسمان کښې کوم کار په خوشحالۍ سره کوو؟
۸ـ آیا د دې درس لوستلو تاسو سره مرسته وکړه چې په ښه توګه د خدای عبادت وکړئ؟

## خپل ځوابونه سره مقایسه کړئ

۱ـ ستا په نور؛ خوشاله
۵ـ تیار
۲ـ رحمت، رښتینتولي، د هغه لوی نوم، د هغه په کلام کښې د هغه لوی فرمانونه.
۲ـ ب
۳ـ کله چې هغه ته غږ کوو، هغه زمونږ غوښتنې ته ځواب وایي. مونږ ته قوت راکوي. د نورو برکتونو د موندلو دپاره د ۲ـ ۸ آیاتونه وګورئ.

۷_ عبادت

۴_ بریالیتوب، د خدای ساتنه، شفا، لاربنودنه، خلاصون، خوشحالي، قوت، د اړتیاوو پوره کیدل او نور برکتونه.

۸_ ستاسو ځواب

# مسيحي عبادت

آيا غواړئ وپوهېږئ چې:

- ولې مسيحيان له خدای څخه شکرګزاري او د هغهٔ عبادت کوي؟
- د عبادت په هکله د مقدس کتاب نظر څه دی؟
- زمونږ په روځيني ژوند کې د عبادت آغېزې څه دي؟

که چېرې ستاسو ځواب هو وي نو دا کتاب ستاسو لپاره ليکل شوی دی. په مقدس کتاب کښې د عبادت او ستاينې نمونې، د شخصي شکرګزارۍ او عبادت پر موقه، ستاسو سره مرسته کوي.

دغه کتاب په ډېرې ساده طريقې سره ليکل شوی دی چې لوستل او پوهېدل يې د هر لوستونکي لپاره اسانه ده. تاسو يوائې د کتاب لارښوونې او تمرينونه په عمل کښې پلې کړئ. دغه کتاب د هغو کتابونو د سلسلې يوه برخه ده چې د «مسيحي ژوند» په نامهٔ ياد ېږي. د مسيحي ژوند سلسله ټول اتلس کتابونه لري. ښه به دا وي چې دا کتابونه په پرله پسې توګه مطالعه کړئ.